...اکونو وسلو ته سخته اړتیا لري

ایرناس آژانس لیکلي چې افغان ولسمشر محمد اشرف غني هم د امریکا له لوري اکراین ته د وسلو د ورکولو له پرېکړې سره مخالفت څرګند کړی او ویلي یې چې واشنګټن ته په خپل راتلونکي سفر کې به یې په دې اړه له امریکايي چارواکو سره وغږېږي. دا په داسې حال کې ده چې ناټو په افغانستان کې خپل جنګي ماموریت پای ته ورساوه او د قاطع ملاتړ په نوم نوی ماموریت یې پیل کړ چې تر ډېره به د افغان ځواکونو پر ملاتړ، مشورې او تجهیز متمرکز وي. له دې وړاندې یې ویلي لوړتي د شیکاګو په غونډه کې ژمنه کړې وه چې هر کال به افغان ځواکونو ته ۴،۱ میلیارده ډالر مرسته وکړي چې زیاته برخه به یې د امریکا له لوري وي. مخکې له دې ویل شوي وه چې، یوازې امریکا په افغانستان کې د شاوخوا اووه میلیارده ډالرو په ارزښت وسلې افغان ځواکونو ته ورپرېښې خو په دې اړه یې په رسمي توګه څه نه وه ویلي. اخوا د افغانستان لپاره د روسي ځانګړي استازي ضمیر کابلوف د روسي ایټرتاس آژانس ته ویلي چې، هېواد یې غواړي افغانستان ته د پوځي اکمالاتو لپاره یو موافقه لیک تیار کړي

Ketabton.com

...ت ته د ډېرې بودجې د بېلولو غوښتنه وشوه

دامنیت دتامینولو غوښتنه وکړه دوی دغه راز زیاته کړه ښځې دانفرادي ودې او دهېواد ډیرو محرومو ولایتونو ته دزیاتې پاملرنې غوښتنه کوي او غواړي چې دبودجې په وېشلو کې مهم رول ولري دننګرهار او هرات دولایتونو دښځو دچارو رییسانو دمشرتابه په کچه دښځو د دریځ د لوړتیا، دامنیت دتامینولو

غوښتنه وکړه اجرائیه رییس دښځو دچارو وزارت دمشرتابه هیئت نظریو او وړاندیزونو ته له اورېدو وروسته له دوی سره ژمنه وکړه چې ددوی ستونزې او وړاندیزونه څېړي اجراییه رییس زیاته کړه چې دملي وحدت حکومت به دښځو دچارو له وزارت سره دمرستې دکافي بودجې دبېلولو او

سرمقاله

ناسم تبلیغات د افغان ځواکونو هوډ نه شي زیانمنولی

په افغانستان کې د ناټو ماموریت رسماً پای ته رسېدلی او ورسره سم ټولې امنیتي چارې افغان ځواکونو پر غاړه اخیستې دي، د کورنیو ځواکونو مورال خورا لوړ دی او په مخ کې یې هېڅ یوه ترهګره او وریکه ولاړه نه شي ټینګېدای، سره له دې، چې د کورنیو ځواکونو شمېره تر اوسه خپل حد ته نه ده رسېدلې او پرمختللې وسلې او هوايي ځواک نه لري، خو د هغوی هوډ د هېواد او ولس د ساتنې او دفاع لپاره پیاوړی دی، هغوی په پیاوړي هوډ د خپلې ملي واکمنۍ د ساتنې او دفاع لپاره هر ډول قرباني ته چمتو دي. له کورنیو ځواکونو سره ولسي او نړیوال ملاتړ د هغوی د پیاوړتیا بل لوری دی، امریکا او ناټو ژمن دي، چې له افغانستان سره به یې د امنیتي تړونونو له مخې د کورنیو ځواکونو په روزنه او پیاوړتیا کې خپله ونډه په ښه توګه تر سره کړي، دري ورځې وړاندې، دوشنبه، په کابل کې د ناټو ځواکونو پوځي ماموریت په رسمي توګه رسماً پای ته ورساوه، د دغه کار تود هرکلی وشو او افغان حکومت، امریکا او ناټو په ویاړ سره وایي، چې کورني ځواکونه اوس پیاوړي دي او ورسپارل شوی ماموریت تر سره کولی شي، کورنیو ځواکونو له دې وړاندې ناټو او افغان حکومت ته خپله مېړانه ښکاره کړې او سږکال یې نه یوازې د ټولې سلنې برخې امنیتي چارې پر غاړه لرلې، بلکې ټول پوځي عملیات یې هم رهبري کول. امریکا د له افغانستان سره د امنیتي تړون په لړکې دا منلې، چې د نړیوالو لپاره به شپږدېرش نیم ملیارده ډالره د افغان ځواکونو د روزنې او پیاوړتیا لپاره ورکوي، دا ډېره ستره پانګه ده، چې پرې افغان ځواک تر ډېره پیاوړی کېدای شي، دغه راز امریکا او ناټو ژمنې کړې، چې د افغان ځواکونو لپاره به هوايي ځواک هم رغاوي. په هېواد کې پوځي اکاډمۍ بل ستر بېلګه دی، چې د کورنیو ځواکونو په روزنه کې مهم رول لوبوي، ناټو هم له دې وروسته د کورنیو ځواکونو د روزنې ماموریت پیلوي، خو له بده مرغه، چې یو شمېر رسنۍ او کورنۍ او بهرنۍ کړۍ داسې ناسم تبلیغات کوي، چې ګنې د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته به افغان ځواکونه ونه شي کولی، چې د هېواد دفاع او ساتنه وکړي، خو داسې نه ده، څو چې کورني ځواکونه په ستر ازموین کې دي، خو تر دغه ازموینه لر ډېره ونګې دي، هغوی په ډاګه کړې، چې په یوازې سر پوځي عملیات کوي او هم یې په مخ کې څوک نه شي ټینګېدای، نو دا پوچ او ناسم تبلیغات به د هغوی پیاوړی هوډ مات نه شي کړای، بلکې لا یې پیاوړی کوي، ښایي ډېر وسله وال مخالفین د بهرنیو ځواکونو د پوځي ماموریت تر پای ته رسېدا وروسته بغاوت پریږدي، ځکه اوس په هېواد کې هېڅ د جګړې دلیل نشته او هغوی، چې د بهرنیو ځواکونو شتون یې په نامه اوس په د سولې له هیر او د هېواد د ابادۍ له کاروانو سره یو ځای کېږي، خو یوه مسئله د امنیتي ورته او هغه دا چې که بهرنۍ او ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې د خپلو ناروا موخو لپاره لاسوهنې ته پای ورکړي، نو په افغانستان کې ژر سوله راتلای شي، دلته پر دغو مغرضو هېوادونو غږ کوو، چې نور د افغانستان له ورانولو لاس په سر شي او د دې پر ځای د افغانستان له ترانزیټي موقعیت او طبیعي زېرمو په معقوله توګه د خپل اقتصاد د پیاوړتیا لپاره ګټه پورته کړي

د کورني او بهرني سیاست شننې

میلاد ناجی بشریت، انقلاب عظیمی در جهان برپا کرد

عزیزی

ناگفته پیداست که میلاد حضرت محمد (ص) این ناجی بشریت، انقلاب عظیمی بود که با ولادت مسعودش جهان را دگرگون ساخت و بنده گان رابه سوی پروردگار عالمیان دعوت وایشان را از ورطه هلاکت ها و بدبختی ها به طرف سعادت سوق داد وجهان نوین را به اساس شریعت پاکش با طلیعه تابناک خورشید سعادت منور ساخت. اگر به اوراق زرین تاریخ اسلام نظر بیاندازیم به خوبی در می یابیم که حضرت محمد (ص) پیمبر انقلاب آفرین در سپیده دم روز دو شنبه دوازدهم ماه ربیع الاول سال ۵۷۱ میلادی در شعب بنی هاشم دیده به جهان گشوده و انقلاب عظیمی را برپا داشت چنان که مادر آن حضرت (ص) گفته است «هنگامی که او تولد شد نوری از وجودم برآمد که قصر های شام در برابر آن روشن شد.» در روایات دیگری آمده است که در هنگام ولادت شان چهارده ستون از ایوان کسری در هم شکست وفروریخت، دریاچه ساوه خشک شد و وادی سماوه پراز آب شد و آتشکده های فارس در آن شب خاموش گردیدند. وجود محمد (ص) سرا پا رحمت و اعجاز بود هر حرکتی که از وی به ظهور میپوست خیرو رفاهی بدنبال داشت وآن حضرت (ص) به اثر راستکاری و صداقت خویش در اعمال خود به محمد امین مشهور ومسمی گردید. چنانکه هر نزاعی که در محیط زندگی او و اقوامش اتفاق می افتاد آنرا با درایت و کارایی خاص حل وفصل میکرد. سران قبایل که در مکه به خاطر گذاشتن حجر الاسود اختلاف خیلی عظیمی میان شان وجود داشت آنرا به صورت خوبتر از

بین برد. حضرت محمد (ص) در زمینه به ابتکاری دست زد که نه تنها موجب قطع نزاع و جنجال بین سران قبایل گردید بلکه وسیله ی شد، تا دشمنی های سابق به دوستی ها تبدیل گردیده و فضای سالم تر و مطمین تری بوجود آید. همان بود که ذات مبارک حضرت محمد (ص) وارد صحنه گردید و چادر مبارک خود رابه زمین هموار کرد و حجر الاسود را بالای آن گذاشت واز سران قوم دعوت به عمل آورد تا از کنار چا درگرفته وسنگ را به محل اصلی اش انتقال بدهند و چنان هم شد و همه به تدبیر، راستی و درست کاری شان تصدیق کردند.

محمد (ص) ۴۰ ساله بود که به رسالت افتخار یافت و به رهنمایی بشر آواره و سر گردان موظف گردید او از آگاهی و دانایی خالق جهان واز کاینات ووظایف و مسوولیت بنده گان خدا (ج) در برابر آفریدگار عالم حرف ها گفت و مردم را به دین اسلام دعوت کرد وی پیوسته میگفت «ای مردم خدای یگانه راپرستید واسلام دین شماست واز هدایات حکمتبار آن پیروی کنید» ای مردم خدای شما یکی ولاشریک است. عرب را امتیازی برعجم و عجمی را فضیلتی بر سرخ پوست نیست. ایشان به مددیاران جانباز و فداکار خود به نشر وتوسعه اسلام پرداخت و بزرگ ترین دستور الهی (قرآن) را جهت رهنمایی انسانها به ارمغان آورد و معجزات بزرگی را جهت حقانیت و ثبوت ادعای خود به منکرین زمان به نمایش گذاشت که در مدت ۲۳ سال رسالت کم کم به او نازل گردید ودل مشتاقان راه حق رابانور ایمان روشن گردانید.

محمد (ص) انسان بود و همانند انسانهای دیگر زندگی میکرد، همانند انسانهای دیگر میاند بشید ولباس خود را خودش شستشو میکرد، به بزرگان حرمت داشت و به خوردان اظهار شفقت میکرد. هرگاه در کوچه طفلی را میدید که بد ریافت منزلش عاجز شده است آنرا در آغوش میکشید وبه چشم و سرش بوسه میزد واو را به دریافت خانه اش کمک می نمود و همواره میگفت هر که به خوردان و اطفال ما شفقت و ترحم نکند و بزرگان را قدر شناسی ننماید و به دانشمندان ما حرمت نکند از ماو از جمله مانیست و هیچ کسی نمی توانست در سلام دادن ازاو پیشی گیرد. حضرت جابر بن عبدالله این گفته رسول خدا را نقل می کند که می فرمودند

پنج چیز به من داده شده که پیش ازمن به هیچ کسی داده نشده است

۱. با انداختن ترس ور عب (در قلب دشمن) از فاصله (دور ودرازی) به اندازه یک ماهه راه از نصرت الهی برخودار شدم

۲. روی زمین برایم مسجد و سبب طهارت ساخته شد، از این رو، هر که از امتم وقت نماز را در یافت هر جاباشد نماز بخواند

۳. با آنکه پیش از من غنیمت به هیچ کسی حلال نبود، اما به من حلال شد.

۴. و به من حق شفاعت اعطاگردید

۵. وپیش از من هر پیغمبر تنها به قوم خودش فرستاده میشد، امامن به عنوان یک رسول به سوی همه انسان ها فرستاده شده ام

پس ای برادر و هموطن مومن! به زیور اخلاق و سجایای نیک وعالی آن حضرت (ص) روح و روان خود را آراسته کن ودست از قتل و برادر کشی بر دار واز تخریب کشور آبایی ات بپرهیز و به عنوان مومن و مسلمان وامت آن حضرت (ص) خود را به جهانیان معرفی کن و در همه امور زندگی از قرآن مجید احادیث و سنت آن برگزیده تاریخ جهان اسلام، انسان و انسانیت پیروی کن و افکار و هدایات روشنایی بخش آنرا با خلوص نیت، صفای باطن و عزم متین پیاده کن، انشاالله در دنیا و آخرت کامیاب و هرگز شرمسار نخواهی شد.

د ملي پروژو کنټرول او پیاوړي مدیریت سخته اړتیا ده

تمیم

افغان حکومت ته نور په هېواد کې د ملي پروژو پر سر معامله او یا د هغوی ناسم مدیریت د منلو نه دی، د دې لپاره افغان ولسمشر ښاغلي محمد اشرف غني په خپل منشور کې خورا اغېزمن پلانونه وړاندې کړي او پر دغو پلانونو به ډېر ژر کار پیل کړي، د پلو کتو یا د ملي پروژو مسوولین به ور کمان ګماري او نور نه پرېږدي، چې د ملي پروژو پر سر سودا وشي، ځکه په تېرو دیارلسو کلونو کې د ملي او سترو پروژو تړونونه څو څو ځله پلورل کېدل او دا تړونونه، چې د نړیوالې ټولنې په مرسته تر سره کېدل، په اصل کې د غیر مسلکي کسانو او یا هم د نش په نامه بهرنیو ژباړنو له خوا را ایسل کېدل او یا په څو څو لاسونه پلورل کېدل، په پای کې به څه پاتې نه شول او هر څل به پر یو او بل شرکت د پلورلو په لړ کې ان ټرې ټیکې وشکول شوې، وروستي شرکت به یا همدا پیسه او ملي پروژه پر داسې کیفیت جوړه کړه، چې تر بشپړېدو وروسته به سم تسلیمي (نحاوپنده)، په تېره یا د سړک جوړولو پروژې، چې له شا به ورپسې له منځه تللې، خو دا کړنې په هېڅ توګه د نوي حکومت لپاره د منلو نه دي، پرون هم په همدې موخه جمهور رییس محمد اشرف غني، د فوایدعامې وزارت چارې له نږدې څخه و ارزولې جمهور رییس غني د فواید عامې وزارت ته چارواکو سره د لیدنې پرمهال د پروژو کنټرول کمزوری وباله او ټینګار وکړ چې ټولې لویې پروژې دې کنټرول او په هره اوونۍ کې دې د هغو د څرنګوالې په اړه بحثونه ده ته رپوټ ورکړل شي. د فواید عامې وزارت باید ۹۰ سلنه تخنیکي او لس سلنه اداري وي، چې خپلې اصلي تخنیکي دندې په موثر ډول ترسره کړای شي. د دغه وزارت د پیاوړتیا لپاره چې هر ډول امکانات او پانګونې ته اړتیا وي، ورته برابره کړای شي» همغه ښاغلي د فواید عامې په وزارت کې ستونزو ته د اشارې په ترخ کې وویل، له بده مرغه په تېرو ۱۳ کلونو کې د انجنیرۍ پر بنیادي ظرفیتونو چې د سړکونو د ساتنې او څارنې او د پروژو د مدیریت په برخه کې ورته اړتیا ده، کار نه دی شوی. جمهور رییس غني د عرضې او تقاضا ترمنځ اړیکې ته د اشارې په ترخ کې څرګنده کړه چې د فواید عامې او نورو زده کړو وزارتونو ترمنځ باید قوي همغږي موجوده وي او داسې یو چوکاټ رامنځته شي چې له مخې یې کاري ځانګړې وسنجول شي او بیا د کابل پولیتخنیک پوهنتون او د کابل پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځي د ۲۱ پېړۍ د اړتیا له مخې خپل نصاب عیار کړي

جمهور رییس ټینګار وکړ چې افغانستان باید د دغه کلیدي وزارت له لارې ثروت ترلاسه کړي چې د دغه کار لپاره د سړک جوړونې د څرګندو ستندردونو موجودیت ته اړتیا ده. جمهور رییس محمد اشرف غني ټینګار وکړ چې موږ باید د پروژو د پلان جوړونې، دیزاین او عملي کولو

۷ مخ

د افغان امنیتي ځواکونو د سربښندنو او اتلولیو د ستایلو له پاره د مرغومي میاشتې ځانګړې کېدل یو پرځای ګام دی

پرتمین همت یار

ددې له پاره چې دافغانستان دخپلواکۍ، ملي واکمنۍ، خمکنۍ بشپړتیا، دسولې او ملي یووالي ددښمنانو داسیمې او نړۍ دمغرضو استخباراتي شبکو دکلونو کلونو روزل شویو، تغذیه شویو او وسله واله شویو مزدورانو، ګوډاګیانو اوتالي څټو دخپلو په لاره کې دافغانستان دوپیارلو امنیتي ځواکونودزیاتو سربښندنو، له خانه تېرېدنو اواتلولیوپوره هرکلی اوستاینه شوې وي اونورهم خپل هېواد او خلکو ته دخدمت کولو له پاره وهڅول شي، نودافغانستان دملي اردو، ملي پولیسو اوملي امنیت په ګډون دټولو امنیتي ځواکونو دستر اواعلی سرقوماندان په توګه دمرغومي روانه میاشت دهېواد دامنیتي ځواکونو دسربښندنو اوسترو برياوو له پاره ځانګړې کړه اوپه دې اړه یې حکم صادرکړ چې دهېواد درسنیو په ګډون اړوندې اداري په دغونډو، ناستو، او کنفرانسونو کې دغه ځانګړې شوې میاشت ونمانځي او په ترڅ کې دې افغان امنیتي ځواکونه وستایي اولور دی هم وهڅوي

دا چې له یوې خوا له افغانستان څخه د امریکې، ناټو او ایساف په ګډون د نړیوالو ائتلافي ځواکونو د وتلو وروستي تاریخي او برخلیک ټاکونکې لېږه تېره شوه او د افغانستان د ټولو امنیتي چارو د پرمخ بیولو ستر مسئولیت د افغان امنیتي ځواکونو پر اوږو ولوېد، او له بلې خوا د افغانستان تاریخي دښمنان دا د سیمې او نړۍ د مغرضو استخباراتي شبکو د کلونو کلونو روزل شویو او وسله والو شویو ایجنټانو او مزدورانو د بېخو، ماشومانو او بوډاګانو په ګډون د بې ګناه او بې دفاع خلکو د بې رحمانه او وحشیانه وژلو له پاره په سنګرونو کې ځای نیولی دی او د سولې، ازادۍ، ملي یووالي او پر خپل یو موټي افغانستان ټول مین افغانان او په سر کې یې افغان امنیتي ځواکونه نهته پوره تیاری او چمتووالي لري چې د تاریخ په دغې حساسې مقطع کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته په بریالیتوب سره د هېواد د امنیتي مسئولیتونو د لېږدوني د بهیر له بشپړېدو وروسته د هېواد د خپلواکۍ، خمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او ملي یووالي له دښمنانو سره ډغرې ووهي او د وخت د انګلیسي استعمار او سرو روسانو د ایجنټانو په څېر یې له ښاش ماتوونکو او خوله ماتوونکو ګوزارونو سره مخ کړي او د افغانستان پرضد د هغوی ټولې شومې توطئې او ناوړه پلانونه د هغوی پر خوب او خیال بدل کړي او داسې یې له خاورو سره خاورې کړي چې په اړه یې دغه شعر صدق وکړي

لاتر اوسه یې ماغزه په کرار نه دي
چا چې ماسره وهلی سر په سنګ

دامنیتي مسوولیتونو دلېږدونې بهیر بشپړ شو د ۲۰۱۵ میلادي کال دلومړۍ ورځې له پیله، زموږ دهېواد امنیتي قوتونه په مستقلانه ډول دخپل هېواد دخپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او دملي واکمنۍ دادمنه دفاع او ساتنه کوي. دهېواد خلکو او دافغانستان داسلامي

جمهوریت دیارلو امنیتي قوتونو په ژوندانه کې دغه دوو سترو تاریخي مناسبتونو دلمانځنې او درناوي په موخه دمرغومې میاشت باید دهېواد دامنیتي ځواکونو دمېړانې او زړورتیا دنمانځنې او ستاینې دمیاشتې په نامه ونوموله شي اومانځل شي اوځانګړې شي، دهېواد ټول دولتي بنسټونه او ټولنیز او رسنیزې سازمانونه ددغو مناسبتونو دلمانځنې دپرتمینو مراسمو اوتدبیرونو په ... اوګبوز انګکس

لکه چې یادونه وشوه د افغانستان منتخب جمهور رئیس محمد اشرف غني هم یادو مهمو او سترو ټکو ته په پام سره یو ځانګړی حکم صادر کړی دی او په کې ویلي یې دي چې د ۲۰۱۴ میلادي کال په پای ته رسیدو سره د نړیوالي امنیتي همکارۍ (ایساف) له ځواکونو څخه د افغانستان د اسلامي جمهوریت امنیتي ځواکونو ته

کې خپل هېواد پال رول ولوبوي او دغه راز ترڅنګ یې دامنیتي مسوولیتونو دلېږدونې دبهیردبریالي بشپړېدو دنمانځنې او دهېواد په مستقلانه دفاع کې دافغان امنیتي ځواکونو دمېړانې او زړورتیا دنمانځنې دورځو تدارکاتي کمېسیون هم باید په یادو برخو کې خپلو فعالیتونو ته سازمان ورکړي نړیوالې ټولنه او همدارنګه د سیمې هېوادونه باید د بشر د ډېر ستر او ګډ دښمن په توګه له ترهګرو او د حقاني د تروریستي ډلې په څېر د هغوی پوري د نړلو تروریستي شبکو د خپلو او د هغوی د خالو د ځنګولو له پاره په پوره صداقت او اخلاص سره له افغانستان سره خپلو شویو ژمنو ته د عمل جامه وراواغوندي او د افغانستان په ګډون دې د سیمې د هېوادونو خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د دغه ډول وحشي صفته دښمنانو او پلېدو عناصرو له ګواښونو وژغوري. که چېرې دهېواد مېړنی، باتور اوویاړلي امنیتي ځواکونه زیات وهڅول شي، زیات مالي امکانات په واک کې ورکړ شي، پوره تجهیزاوسمبال شي، نو بیا پردې پوره باوردی چې دافغانستان تاریخي دښمنان اودهغوی سیمه ییز او نړیوال استخباراتي باداران به ډېر ژر پرګوندو کړي، دیانې شونو جرړې په

بې بېخي وچې کړي او خولې به یې له خاورو او ایرو څخه ډکې کړي اوله خپلو شوموتوطئو سره یو ځای به یې د تاریخ تورو اوږو ته وسپاري

دیادونې وړ ده چې د تېرې یکشنبې په ورځ په کابل کې د ناټو ځواکونو د بولې رسمي مراسمو پرمهال په دې هېواد کې د خپل جګړه ییز ماموریت د پای ته رسېدو اعلان وکړ. په دې اړه اوباما په یوه اعلامیه کې ویلي «اوس زموږ د نارینه او ښځینه پوځیانو په قرباني ورکولو سره، د امریکا په ټول تاریخ کې اوږده جګړه او جګړه ییز ماموریت په مسوولانه ډول پای ته ورسېد» دې زیاتوي «موږ تر نورې پرې ډېر خوندي یو او زموږ هېواد ډېر خوندي دی، ځکه چې د القاعدې شبکې مهمې ځالې مو له منځه یووړې او د ترهګرو پلانونه مو شنډ کړل. په افغانستان کې د امریکا حضور افغانانو ته دا فرصت ورکړ چې خپل هېواد ورغوي او لومړی ټاکنې وکړي، همداشان د دوی د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل په ډیموکراتیک ډول واک ولېږدول شو.»

اوباما مني چې «افغانستان لاهم یو خطرناک ځای دی، ځکه چې د افغان حکومت په غوښتنه به په افغانستان کې د امریکا او ایتلافي ملګرو هېوادونو یو شمېر محدود پوځیان د افغان ځواکونو د مرستې او روزنې او همدارنګه د القاعدې شبکې او ترهګرو د خپلو د عملیاتو لپاره پاتې شي» نوموړی هوډ لري چې په افغانستان کې نږدې دیارلس زره پوځیان د افغان امنیتي ځواکونو د روزلو، مشورې او ملاتړ لپاره پرېږدي. د خپلو ریپوټونو له مخې، په تېرو ۱۳ کلونو کې په افغانستان کې د ایساف لړتولړه ۳۴۸۵ پوځیان وژل شوي، او په افغانستان کې په تېرو ۱۳ کلنې جګړې نږدې زر ملیارده ډالره لګېدلي دي. اوباما - چې په عراق او افغانستان کې یې د جګړې ختمول د خپلې مشرۍ له لومړیتوبونو ګڼلي وو - ویلي چې «وروستي ۱۳ کلونه زموږ د هېواد او وسله وال ځواک لپاره یوه آزموینه وه، خو په عراق او افغانستان کې د ۱۸۰ زرو پوځیانو په مقابل کې کله چې زما مسوولیت پیل شو، اوس موږ ۱۵ زره پوځیان په دواړو هېوادو کې لرو» بله خوا، د امریکا د دفاع منتخب کېدونکي وزیر چک هېګل په یوه بیانیه کې ویلي «د امریکا متحده ایالتونه همه پوځي مسوولیت پای ته رسوي، چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې له پېښو وروسته پیل شوي او د ۲۰۱۵ کال په پیلېدو پای ته رسېږي.»

روغتیا او ژوند

د وینې لوړ فشار په طبیعي ډول کنټرول کړئ

د وینې لوړ فشار یو له ډېرو عامو ناروغیو څخه دی چې مختلف لاملونه لري. دا لوړ فشار د زړه د ناروغیو او دماغي رګونو د ماتېدو لامل ګرځي چې د انسان د مرګ لامل هم کېدای شي. دلته مو له هغو کورنیو درملو سره اشنا کوو چې په مرسته یې د وینې لوړ فشار

کړئ. کوښښ وکړئ چې هره ورځ زیاته اندازه مېوه او سبزیجات، غوړ نه لرونکي خواړه، لږ غوړ لرونکي لبنیات او وچې مېوې استعمال کړئ.

۲- د فشفش مواد لکه بوره او غوړ لرونکي خواړه استعمال کم کړئ او که ممکنه وي نو خال لرې (ساې) خوړلو

(Celery) نومې سابه د وینې لوړ فشار په کنټرولولو کې ډېره مرسته کوي.

۱۱- ژوند کولو طریقه بدلول د وینې د لوړ فشار لپاره تر ټولو غوره درملنه ده. خپل وزن نارمل ساتل، د مالګې استعمال کمول او صحي خواړه خوړل به مو د وینې لوړ فشار شکایت له منځه یوسي. هېره دې نه وي چې ذهني فشار د وینې لوړ فشار ته ډېر مضر دی. که غواړئ د وینې فشار مو لوړ نه شي نو له ذهني فشاره ځان وژغورئ.

یادونه: پورتني خواړه او لارې چارې یوازې د وینې لوړ فشار کنټرولولو لپاره دي. هغه کسان چې د وینې ټیټ فشار لري دغه طریقې او خواړه دې نه عملي کوي.



کنټرولېدی شي:

۱- **اوړه**: یو له هغو خوړو څخه ده چې د وینې لوړ فشار کنټرولوي چې اوس د پوډر او ګولۍ په شکل هم پیدا کېږي.

۲- **هاوترون** (Hawthron) نومې ځنګلي بوټی د وینې فشار نارمل ساتي.

۳- په کېالو کې موجود غوړ د خپلو ورځنیو خوړو بوه اړینه برخه وګرځوئ.

۴- هغه خواړه چې په خپل ترکیب کې فولیک اسید (Folic Acid) لري له زیات نه زیات استعمال کړئ.

۵- خپل خواړه په جدي توګه کنټرول

ثابته کړې چې له مالګې څخه زیات بوره د وینې فشار لوړوي.

۷- په خپلو ورځنیو خوړو کې هغه غذایي توکي انتخاب کړئ چې زیاته اندازه کلسیم، مګنیزیم او پوتاشیم لري.

۸- پر بېلابېلو لارو سره کوښښ وکړئ خپل اعصاب ارام وساتئ. له ملګرو سره چکر وهل به مو اعصاب ډېر ارام کړي.

۹- د هېندوانې وچ او پاخه زړي په شریانونو کې د وینې جریان له بهتر کولو سره د وینې لوړ فشار کنټرولوي.

۱۰- اوبه، شلغم، شات او سیلري

په چلم کې استعمالېدونکي تمباکو د وینې د سرطان سبب ګرځي

په افغانستان، پاکستان، هندوستان او اوس په ځینو اروپایي هېوادونو کې هم چلم څښل عام شوي او خلک په دې فکر دي چې چلم به د سګرېټ څخه ډېر خطرناک نه وي نوې څېړنه ښيي چې په چلم څښونکو کسانو کې د وینې سرطان ډېر په چټکتیا سره څېرېږي چې د سرطان څېړندو سرعت په چلم کې نسبت سګرېټ ته څو ځلې زیاتې دي. د امریکا سین ډیاګو پوهنتون کې شوې دغه څېړنې په اساس د چلم څښلو پر مهال کله چې هوا بدن ته داخلېږي نو له ځان سره د بېنزین کیمیاوي مواد هم انتقالوي کوم چې په وینه کې موجود سپین ډرو شمېر زیاتوي او وینې خطرناک ناروغۍ لیو کیمیا

سبب ګرځي. دغه څېړنه کې د ۱۰۵ چلم څښونکي کسانو ټس ټولو نمونې له چلم څښلو مخکې او وروسته وخېړل شوې سربېره پر دې

خخه معلومه شوه هغه کسان چې چلم څښي د هغوي په بدن کې بېنزین له ماتېدو څخه د ایس فینایل مرکپټیورک اسید

(s- phenylmercapturic acid)

نومې خطرناک مرکب څلور ځلې زیات نسبت هغو کسانو ته چې خپله چلم نه څښي خو هغو ځایونو کې

د ۱۰۳ هغو کسانو ټس تولې هم وخېړل شوې کوم چې چلم نه څښي خو په هغو ځایونو کې چې چلم څښل کېږي موجود وي له څېړنې

چې چلم څښل کېږي موجود وي تولیدېږي. د څېړنې یو مسول ووېل دا لومړی ځل دی چې کورونو او کوڅو کې په چلم څښونکو کسانو څېړنه ترسره کېږي او دې څېړنې ثابته کړه چې د چلم څښونکو کسانو وینه کې بېنزین ډېر زیات وي او په چلم کې استعمالېدونکي تمباکو نسبت نورو ډولونو ته ډېر زیات خطرناک دي. څېړونکو خبرداري ورکړی هغه کسان چې چلم نه څښي خو بیا هم چلم څښونکو په مجلسونو کې ګډون کوي د چلم لوګي د هوا تنفس کولو پر مهال د هغوي بدن ته داخلېږي کوم چې د هولرلیو کیمیا ناروغۍ سبب ګرځي.

اوبه څښل د خطرناکو ناروغیو اسانه درملنه ده

د پاکو اوبو څښل انساني بدن لپاره تر ډېرو درملو ګټور بلل شوي دي. د چین او جاپان خلک تل د خوړو پر مهال ګرمې اوبه څښي او دې سره د هاضمې نظام روغ جوړ وي او د دې پر خلاف د افغانستان او یو شمېر نورو هېوادونو اوسېدونکي د خوراک پر مهال یخې اوبه څښي او د طبي کاربوهانو په وینا دې سره د معدې او سرطان ناروغۍ پیدا کېدای شي. که په خالي خېټه اوبه وڅښو، نو ډېرې ګټورې دي او که سهار وختي یې په نهاره وڅښو، نو له ډېرو ګوابنده او خطرناکو ناروغیو به مو وژغورې. ډاکټران وایي، که د دوې په ښوول

معدې ناروغۍ او قبضیت په لږو ورځو کې ورکېږي

په نهاره د اوبو څښلو طبي طریقه

کله چې له خوبه راوېښ شئ، نو ......سره سمدستي باید څلور ګیلاسه اوبه وڅښئ، چې مقدار یې یو لیتر کېږي. په لومړیو ورځو کې د دومره ډېرو اوبو څښل ستونزمن وي، خو ورو ورو ورسره عادت کېږئ او خومره چې څښلې شي ځان ترې مه درېغوئ. له دې وروسته خپل غاښونه ومینځئ او تقریبا یو ساعت وروسته سباناری «د سهار چای» وکړئ. د سهار له چای وروسته تر دوو ساعتونو له هر ډول خوراک او څښاک څخه په بشپړه



توګه ځان وساتئ، نو په ډېره لنډه موده کې مو په بدن کې مثبتې نښې او بدلونونه وګورئ.

شوې طریقه اوبه وڅښل شي، نو د وینې لوړ فشار او د شکرې ناروغۍ په یوه میاشت کې له منځه ځي او د

که د خولې له بدبویۍ کړېږئ؛ دا کړنې ولولئ

د خولې بد بوی ډېر لاملونه لري چې له هغو څخه د ګردې ناروغۍ، دهاضمې سیستم خرابوالی، د وینې د شکر زیاتوالی او د ځیګر ناروغۍ د یادولو وړ دي. د خولې بد بوی د

ځینو ناروغیو سربېره غاښونو ته پاملرنه نه کول، د خولې مختلفې ناروغۍ او د خولې وچوالی له امله هم رامنځ ته کېدی شي. د خولې بد بوی له منځه وړلو لپاره د ورځې دوه ځلې باید غاښونه برس شي تر څو خوله کې پاتې غذایي مواد، باکتریا او له منځه تللې حجرې ووېنځل شي؛ خو په یاد ولرئ د خولې بد بوی د غاښونو خرابوالی له امله هم پېښېږي چې باید ډاکټر ته مراجعه وشي. دلته هغه کورنۍ لارې چارې درښیو چې د خولې بد بوی له منځه وړلو کې به مو مرسته وکړي.

۱- **چای وڅښئ**: څېړنو ثابته کړې چې په شنه او تور چای کې د پولیفینول په نامه مواد موجود دي چې په خوله کې بد بوی زیاتوونکي باکتریا زیاتېدو مخه نیسي. پولیفینول په خوله کې د موجود باکتریا د

هایډروجن سلفاید تولیدولو مخه نیسي.

۲- **خوله د زنک لرونکي مایع په وسیله مینځل**: زنک په خوله کې د سلفر مرکباتو مخه نیولو سره د خولې

بد بوی لامل ګرځي.

۵- **ډېر مایعات وڅښئ**: د اوبه او نورو مایعاتو زیات استعمال به مو خوله تازه او مرطوبه وساتي. د چینایي درملنو په اساس د خولې بد



بد بوی له منځه وړي.

۳- د خولې بوی ښه کولو لپاره ځینې بوټي استعمال کړئ: ځینې بوټي لکه نعنا، ګشنیز او ترخون د خولې بد بوی له منځه وړلو سربېره د خولې بوی ښه کوي. د خولې بوی ښه کولو لپاره یاد شوي بوټي باید یوې دقیقې لپاره وژول شي.

۴- خوله خپل ترکیب کې الکول لرونکي مایعاتو په وسیله مه وینځئ ځکه چې د الکول هر ډول د خولې

بوی د ځینې زیاتې تودوخې له امله هم کېدی شي چې دغه تودوخه د اوبو، مایعاتو او ځینو سبزیجاتو په مرسته له منځه تللی شي.

۶- **له ذهني فشاره ځان وژغورئ**: په ډېرو خلکو کې د خولې بد بوی ذهني فشار له امله رامنځ ته کېږي. ذهني فشار به خوله کې د سلفر مرکبات تولیدولو سبب ګرځي چې له امله یې د خولې ښه بوی له منځه ځي.

دغه خواړه به مو له سرطان څخه وژغوري

شاید ډېرو کسانو ته د ملو وړ نه وي خو په نړۍ کې ۳۵٪ سرطان د خوړو له امله رامنځ ته شوي که خپل ځان له سرطان څخه ژغورل غواړئ نو داسې خواړه استعمال زیاته کړئ چې ستاسې خاصه توجه شوې وه تانیک اسید (Tannic Acid) کوم چې په ام کې په زیاته اندازه پیدا کېږي د پولیفینول یو ډول دي چې نسبت نورو ته ښه خوند لري دا ثابته شوې چې

په بدن کې د حجرې له منځه تللو مخه ونیسي. مېوه او د سبزیجاتو مختلف ډولونو استعمالول انسان د سرطان له مختلفو ډولونو څخه ژغوري. کوم خلک چې د ورځې څلور ځلې مېوه استعمالوي په هغوی کې د سرطان خطر ۵۰ سلنه نسبت هغو کسانو ته چې د ورځې دوه ځلې مېوه استعمالوي کمېږي. دلته مو له هغه خوړو سره اشنا کوو چې د سرطان په مخنیوي کې مهمه ونډه لري.

۱- **سره مڼه**: څېړنو ثابته کړې چې سره مڼه او هغه سابه چې سرو مڼو ته ورته خواص لري په موږکانو کې د سینې له سرطان څخه مخنیوی کوی. سود پوټکي لرونکي سابه او مېوې په بدن کې د سرطان حجرات له منځه وړي او په بدن کې د پروټین تولید زیاتولو سربېره په ښځو کې د سینې د سرطان لامل کېدونکي هارمونونه له منځه وړي چې په دې ډول د سینې له سرطان څخه مخنیوی کوي.

۲- **ام**: څېړنې ښيي هغه ښځې چې زیاته اندازه ام استعمالوي په هغوی کې د سینې د سرطان خطر کمېږي. څېړونکو د پولیفینول (Polyphenol) په نامه مواد وڅېړل په دغې څېړنه کې تانین (Tannin) نومې موادو ته کوم چې د سرطان څخه مخنیوی کوي

پولیفینول په بدن کې د حجراتو د تولېنه کېدو مخه نیسي.

۳- سټروس سټروس کورنۍ مېوې لکه نارنج، لیمو او کامکورت زیاته اندازه ویټامین سي لري. ویټامین سي د معدې سرطان، د حنجرې سرطان، د سینې سرطان او د سږو په سرطان اخته کسانو ته ډېر زیات ګټور دي.

۴- **هاوترون** (Hawthron): یو ډول بوټي دي چې په دښتو کې په زیاته اندازه پیدا کېږي. دغه بوټي د هاضمې نظام د ښه کولو او د وینې چربې (کولیسټرول) له منځه وړلو لپاره ډېر استعمالېږي. دغه بوټي د سرطان حجرې له منځه وړي او زیاته اندازه ویټامین سي لري. دغه خواړه د معدې او سینې د سرطان په مخنیوي کې ډېره زیاته مرسته کوي.

۵- **عناب** (Jujube): دغه خواړه زیاته اندازه بي- کاروټین (B-Carotene)، ویټامین سي او د بي ویټامینو غوره منبع ده. دغه خواړه زیاته اندازه ټرایټرپینایډ (Triterpenoids) لري کوم چې د سرطان له منځه وړونکي مواد دي.

۶- **کیوي**: کیوي د ویټامین سي غوره منبع ده چې د نارنج څخه ۱۲-۲ ځلې، مڼې څخه ۳ ځلې او انګور څخه ۴۰ ځلې زیاته اندازه ویټامین سي لري.

د وینې د کولسټرولو ستونزې

په هغو ناروغانو کې چې د زړه د رګونو ناروغۍ لري، د وینې د کولسټرولو راټیټول د مرګ و مېر د کموالي سبب کېږي، همدارنګه په نرانو او ښځو کې په متوسطو او لوړو عمرونو کې د زړه د ناروغیو د برګشت سبب کېږي (ثانوي وقایه). په هغو ناروغانو کې، چې د زړه د رګونو ناروغۍ نلري، د کولسټرولو راټیټول د قلبي وعایي حملو د کموالي سبب کېږي. هغه پلګونه (د غوړو ټوټې) چې د اتیروسکلروزس په ناروغانو کې د شریانونو پر دیوالونو نښتي وي، زیاتره برخه یې کولسټرول دي، چې ددې کولسټرول زیاتره برخه LDL جوړوي. هر څومره چې HDL لوړ او LDL کولسټرول ټیټ وي، د زړه د اکلیلي اوعیو د اتیروسکلروزس ناروغي کمې وي. LDL باید له 100 ملي ګرام في دیسي لیتر کم وي. HDL باید په نرانو کې له 45 ملي ګرام في دیسي لیتر او په ښځو کې له 50 ملي ګرام في دیسي لیتر څخه لوړ وي. هغه څېړنې چې تر 65 کالو څخه په کم عمره

کسانو کې تر سره شوېدي، ښيي، چې په کومو ناروغانو کې چې کولسټرول له 230 ملي ګرام في دیسي لیتر څخه لوړ وي، د مرګ و مېر خطر یې ۱۰ سلنه دی؛ په هغو ناروغانو کې چې کولسټرول له 170 ملي ګرام في دیسي لیتر څخه زیات وي، د مرګ و مېر خطر ۳ سلنه دي. د LDL کولسټرولو د هرو 10 ملي ګرام في دیسي لیتر په لوړېدو سره لس سلنه خطر زیاتېږي او د HDL کولسټرولو د هر 5 ملي ګرام لي دیسي لیتر په زیاتېدو سره دا خطر لس سلنه کمېږي. د کولسټرولو د ټولو اجزاوو پېژندل د مجموعي کولسټرالو په پرتله د زړه او رګونو د ناروغیو خطر ښه ترا روښانه کوي. مثلاً که د دوو کسانو مجموعي کولسټرول 275 ملي ګرامه وي، په داسې حال کې، چې د لومړي کس HDL کولسټرول 110 ملي ګرام في دیسي لیتر؛ LDL

کولسټرول یې 135 ملي ګرام في دیسي لیتر او ترای ګلسراید یې 150 ملي ګرام في دیسي لیتر وي او د دویم کس HDL کولسټرول 25 ملي ګرام في دیسي لیتر؛ LDL یې 210 ملي ګرام في دیسي لیتر او ترایګلسراید یې 200 ملي ګرام في دیسي لیتر وي، نو په دویم کس کې د زړه او رګونو د ناروغیو خطر د لومړي په پرتله لس چنده زیات دي. بعضې مولفین مجموعي کولسټرول پر HDL کولسټرولو وېشي، هر څومره چې دا حاصل کم وي، خطر کم ګڼل کېږي.

د وینې د غوړو لپاره معاینات

مجموعي کولسټرول، HDL، LDL او ترایګلسراید باید په خالي نس تر دولس ساعته لوږې وروسته معاینه شي. که د زړه د رګونو د ناروغیو لپاره کوم خطري فکتور موجود نه وي، نو په هرو پنځو کلونو کې باید د وینې غوړ معاینه شي. د کولسټرولو ملي

پوهنیز پروګرام پیشنهاد کوي، چې تر شل کلنۍ وروسته باید ټول اشخاص د وینې د غوړو لپاره خپله وینه معاینه کړي. د تداوي تصمیم د LDL او HDL کولسټرولو د سویې پر بنیاد نیول کېږي.

د لوړ LDL کلسټرول تداوي

• د LDL کلسټرولو کمېدل د زړه او رګونو د ناروغیو خطر کموي

• نور احتمالات لکه سګرېټ پرېښودل، د فشار کنټرول او د اسپرین توصیه هم رول لري

• سګرېټ پرېښودل د LDL کولسټرولو سویه ټیټوي او د HDL سویه پورته کوي

• فزیکي تمرین او وزن کمول هم LDL کولسټرول کموي او HDL زیاتوي

د شحمي غذا د محدودولو په مرسته تداوي

• غذایي رژیم د LDL کولسټرولو سویه له ۵-۱۰ سلنه پورې کموي که غذایي رژیم ډېر محدود شي، نو د LDL کولسټرولو سویه له ۲۵-۳۰ سلنه پورې کمېږي

• ددې لپاره چې د غذایي رژیم اغیزې معلومې کړو، باید څلور اونۍ وروسته د وینې کولسټرول معاینه شي

• مشبوع شحمیات لکه نباتي غوړي، غوښه، لبنیات او ماستې باید په غیرمشبوع شحمیاتو لکه مایع نباتي غوړي، زیتون غوړیو، د لمرګلي غوړیو، د کنجد او بادامو په غوړیو تبدیل شي

• په غذایي رژیم کې نور تغیرات چې د لیپیدو په سویه کې تغیر راولي عبارت دي له منحلو فیبرونو لکه ناک، نارنج، لوبیا او بادرنګو څخه چې ممکن د LDL کولسټرول له ۵-۱۰ سلنه کم کړي

• antioxidant چې په سبزیو او مېوو کې موجود وي، د LDL کلسټرولو په کمېدو کې کمک کوي

لیکوال: رنځوریار ډاکټر حبیب الله وردګ، په رابعه بلخي روغتون کې د داخلي وارډ ترینر متخصص

ادب، تاريخ او فولکلور

پيغمبر (ص)

شاه محمود درويش

په نړۍ کې دتورتم خپې خورې وې
راپيدا په کې دحق روښانه لمر شو

بشريت ته يې دعوت داسلام ورکړ
محمدنبي نامدار چې پيغمبر شو

ټول يې وبلل ديو خدای بنده ګۍ ته
دی دحق دلارويانو ستر رهبر شو

داسلام دين يې راخور کړ هريو لورته
رحمت اللعالمين خير البشر شو

هم په ټولو انبياوو کې الله ته
مرتبه کې محمدنبي بهترشو

کړه دنيايي داسلام په نور روښانه
پس له هغه يې دعقبا لور ته سفرشو

ای درويشه زړه مې هله به ټکور شي
که زيارت دمحمد (ص) ته مې ګذر شو

نتې

منګل

نوردې په دې ښايسته مخ مه وهه ګوتې
ستا دلاسه مې وختې په کلي ختې
ستا ښکلې مخ ته چې ګورمه په مينې
زړه مې بې واره خپل کې په داسرې نتې

افغان کور

درنه جار اوزارشم راشه راشه
نورمه ړنګوه داد خوشال خان کور
داد بيټ نيکه مسته اوښکلي دعاده
ودان کړه دتاجک، ازبک او افغان کور

ښکلي ګلونه

خدايه څه وکړم چيرې لاړشم ؟
څه شول له غيرته ډک ميړونه ؟
څه شوې له حيانه ډکې پېغلې ؟
څه شول زما دوطن ښکلي ګلونه ؟

طنز د پوهانو له نظره

علي محمد

اورو اخلي درنې شنه خاله
چې وڅې نه وېنم ترې ته مې وينه
زما ژبه نه ده اور ده
ګذارونه د ټوپک کا
(خوشال خان خټک بابا)
زنې مه دې خوله کې راکه
خلک توبيانونه شکرې ورکوينه

طنز، د ادب په ښکلي اوګلورين ګلستان کې خانته خانګړی ښايسته ګل، په بله ژبه د ادب په انواعو اواقسامو کې خانته ګوښې ادبي ډول اوژانر دی کله چې څوک ددغه ادبي ګل په برخه کې دلويو او نوميالو پوهانو نظريې اوځرګندونې په ښه غور او خيرسره ترکتنې او لوستنې لاندې ونيسي او پوره خير کتنه پرې وکړي، هلته به دېته هم خير شي، چې طنز څه ډول ادبي ليکنه ده ؟ چې په پايله کې به يې طنز هم پوځه وپېژني او ورسره آشنا به شي، خو دموضوع په پيل کې مې دغو رنګينو لنډيو دفکر دړه راوټکوله اوزړه مې هم په ټوپوشو، چې دلنډيو مخې ته وربدرګه شوه او داسې روغبړ مې په مينه ورسره وکړ

که دوکتورا ترلاسه نه کړې
په لېسانس اوماستری خوله نه درکومه
که دې لېسانس ترلاسه نه کړ
ددوولسم په سويه خوله نه درکومه
شين سترګيه سورمخ به دې تورشي
ډېر دې په داخېل قدرت مه کوه نازونه
شين سترګيه زوربه دې ايرې شي
دوه پنځوس ډوله باندې مه کوه وياړونه
دا دې لندن رويې دې زارشه
تورو بيچکو کې مې سپين ولګېدنه
يومې ليکنو زړه راشين کړ
بل پښتوله يوبل واخيستل لاسونه
افغانستان به خدای راجوړ کي
دښمنه ستا په مخ به څه درباڼې شينه
افغانستان به خدای ودان کي
تل به هم نه وي ګرېوانو سرکې لاسونه

په هرحال، دګران هېواد، ډېر عزيز اوستر استاد اروانباد د اکاډمېسن کانديد سرمحقق محمد صديق روهي دطنز او طنز ليکونکي په برخه کې ډېره هراړخيزه زړه باغ باغ کوونکې ليکنه کړې ده، چې دلې نه دموضوع دښې روښنيا له پاره په پوره ښه ورته خير اوپه مينه به خاې ورکړو ده رانه به ښه کيلي اورنګين ډول ليکلي دي

وېل کېږي، چې طنز ليکونکي دبولډوزر په شان دی، چې زاړه دېوالونه چپه کوي او خلي رنګوي، هغه طنز ليکونکي دبولډوزر په شان دی، چې زاړه دېوالونه چپه کوي او خلي رنګوي، هغه تخريب ته تکړه دی، خو تعميرته يې ملامته ده، که دا خبره رښتيا وي، نو د شاعر داخبره به هم رښتيا وي، چې ويلي يې و

جبرته يوخلي رنګېده ماويل چې
وران يې نه کړې جوړېدلای نشي

په کتابونو کې روايت راغلی دی، چې طنز ليکونکی، چې طنازي کوي، دهغه اصلي هدف يا جوړونه ده هغه تخريب دتخريب دپاره نه غواړي، بلکې تخريب دتعمير دپاره غواړي صادق طنز ليکونکی، چې څه وايي دخلکو په خيرې وايي دتعجب خبره خو داده، چې خلک رښتيا خبروته هم خاندي دطنز کمال دادی، چې رښتيا خبرې دټوکو ترماسک لاندې تېروي، خيني

تکړه طنز ليکونکي پوهېږي، چې څنګه په کنايه خبرې وکړي هغوی ديو چا ستاينه کوي خو هرڅوک په اسانۍ پوهېږي، چې مقصد يې غندنه ده دا دطنز ليکونکي قصور نه دی، چې دده خبرې په سرچپه ډول تعبيرېږي

طنز ليکونکي هم په دوو ډلو وېشل کېږي خينې په (هوراس) پسې ځي او خينې د (جووينال) لارتعقيبوي هوراس دلرغوني روم غزلبول شاعر اوطنزوليونکی و، دده ژبه خوږه اوپسته وه اودده خبرې پر مخالفانو هم بدې نه لګېدې، دده پر خلاف دجووينال، چې هغه هم دلرغوني يونان نامتو شاعرو سبک يې تريخ، قهرجن اونېش وهونکی و، ټول درواغجن ،ټګمار، غورلن او فساد پېشه خلک يې داسې بې آبه کول، چې ددښمنانو زړه به پرې يخ شو لېکن ددې خبرې معنادا نه ده، چې هغه به مخامخ کنځلې کولې، يا به يې لېځ په تېغه هجوه کوله، يا به يې پيغورور کاوه بلکې هغه دطنز خاصه لهجه استعمالوله، هغه دچاخبره، چې ((حرکاری هنر دارد نه کتاب است که فرفر بخوانی))

دپښتو متل دی چې تر کسانې د بيزو کار نه دی

(دکانديد اکاډميسن سرمحقق محمد صديق روهي له ګڼ اولوی يادښت څخه)

تردغې زړه باغ باغ کوونکې ډېرې لنډې مقدمې اودسرخيو ګلونو خبرو وروسته يې، په ډېره خوږه اودرنه ليکنه، دطنز دپېژندنې په برخه کې داسې ګلورين بيان کيلی دی چې زړه پرې باغ باغ کېږي، وايي طنزته په انګريزي ژبه (ستاير srayr) ويل کېږي، ستاير په اصل کې د ډول ډول مېوو څخه ډک غاب ته ويل کېده که داسې وي نو طنز

په واقعيت کې دخوند اومزې دپاره دی دعربې ژبې طنز هم ناز او ملنډوته ويل کېږي اوشاعرانو يې په توصيف کې ډېر ښېتونه ويلي دي په دې اساس، طنز له سپکوسپورو اوښکنځلو منځلو سره ډېره فاصله لري، دهنر په تاريخ کې ډېرو نامتو هنروالو اوفيلسوفانو خپل آثار دطنزپه شانو لړلي دي (سوکرات تجاهل يو ډول طنز اونيشخند و، چې دهغه په مرسته به يې حريف ته ماتې ورکوله (اريستوفان) دومره زړه ور و، چې د (چونګښې) په نامه ډرامه کې يې دخپل وخت پرفيلسوفانو هم ملنډې ووهلې لرغوني يونان او روم نه، چې رانېرشو، نوپه فرانسه کې دمولېر او ولتير نومونه هم دسترو طنز ليکونکو په ډله کې راځي دخپلو په عقيده، نه ولتير، سره هيڅوک سيالي نه شي کولای (فريدريش نيچه) دده په باب ويلي و ((داشرورو ه، چې يوخندېدونکي زمري ميدان ته راشي له همدې امله، ولتيرراشي او هرڅه يې په خپلې خندا سره نابود کړل))

دی زيانوي او وايي ګرانو لوستونکو، دکتاب سريزې اکثره خلک نه لولي زه پوهېږم چې تاسو دغه سريزه نه لولئ، نوزه به هم له موقع څخه په استفادې سره دخپل محبوب طنز ليکونکي يعنې ولتير په باب يو روايت نقل کړم

وايي چې (ژان ژاک روسو) خپل نامتوآثر (دنابرابرۍ داصل په باب څو خبرې) ولتيرته ور واستاوه روسو په دغه کتاب کې له تمدن نه شکايت کړی او خلک يې تشويقول، چې بېرته ځنګلونو ته پناه يوسې او دوحشي قبيلو په شان ژوند وکړي په هغه وخت کې دروسو دغه کتاب يوشاهکار ګڼل کېده اوهيچا جرئت نه درلود چې حمله پرې وکړي ولتير، دلومړي کتاب له لوستلو وروسته روسوته داسې وليکل

((زما ښاغليه، ستاسې کتاب، چې دبشريت په ضد دی، راورسېد له دې بابته ډېره مننه کوم رښتيا خبره داده، چې تراوسه پورې هيچا ستا سو په اندازه عقل اومنطق دې نکتې ته نه دی وقف کړی، ستا دکتاب له لوستلو نه پس له سړې سره دا شوق پيدا کېږي، چې په څلور پولو ولاړ شي، خو څرنګه چې په تېرو شپېتو کلونوکې ما په دوو پښو تګ کړی دی او ورسره عادت شوی يم، له بده مرغه زما ديپار نامکمله ده، چې په څلورو ولاړشم))

اروانباد استاد روهي صاحب وايي بايد ووايم، چې زه ددغې ليکنې ليکوال، لېټينو کلونو له تېرېدو شوی يم رښتيا، چې داخبره راته هېره نه شي طنز په خپله دليکنې يواسلوب دی، چې په مختلفو ژانرونو لکه شعر، نثر، کيسه، ډرامه، نقاشي، مجسمه جوړونه، معماري اوحتی موسيقي کې څان ښکاره کوي که دتکنيک په لحاظ څوک طنز ته ژانر ووايي اختيار لري طنز آزاد دی که يې څوک ژانربولي اوکه يې نه بولي، هغه يې څه پروا لري

په اوسني وخت کې دطنز ليکونکو شمېر زيات دی، خو څرنګه چې زموږ ليکوال د دوی له آثارو سره آشنا نه دي نوځکه دنوم اخيستل يې ګټه نه لري چې دچا دا دليل نه خوښېږي نويو څو نومونه په واخلم الفسه مسيحي پېړۍ دطنز ليکنې طلايي عصر په دغو نومونو ښکلي شوی دی (ډرايډن، سويفټ، اډيسن، ستيل، پوپ، فيلډينګ، بايرن، تاکري اونور په افغانستان کې دادب اوفرهنګ مينه وال له دغو نومونو سره زيات اشنا دي چخوف، برنارډشا، عزيز نسين، غني خان غني، علی اکبر دهخدا اوکاتب پاځون

(داروانباد ستر درانه استاد او دانش ليکوال روهي صاحب له ليکنې يادښت څخه ،په لنډيز سره رااخيستنه)

ډېر منلي او روڼ اندي ستر روښنګره استاد اودفرهنګ په لويو غوړېدونکي درانه اوفاضل عالم کانديد اکاډمسين محمد صديق روهي، دطنز په اړه ددغه تاريخي اوږده په زړه پورې بحث په پای کې له لنډيز سره، خپل ډېر غوره يادښت اوليکنه کې په ډېر ونادرو او عالي کلمو سره دطنز په باب داسې روښانه علمي يادونه کړې ده، چې طنزيې ډېر ښه راغوړولی اوراخلولی دی، چې جلوې ته به يې دلې خير شو.

نوريا

د چين مشهور ديوال ددغه هېواد ستر او لرغونی شهکار دی

حيات الله حليم

په رښتيا هم چې دچين لوی ديوال دنړۍ د اووعجايبو په ډله کې هغه ستر او له عظمته ډک ديوال دی چې وجود يې له افسانو او اساطيرو لوړاو انساني عقل او قياس تر حيرانوونکي اغيزې لاندې راولي دغه لوی ديوال چې ديوه اوږده بامار په څېر د چين هېواد په غرولو رغونو، لوړو ژورو، سمو دښتو او ميرو کې له ختيځ نه د لوېديځ په لوربه ماريچ ډول د لس مترو په لوړوالي، پنځه متره پلنوالي اوډکابو اووه زره کيلومتر و په اوږدوالي غځېدلی دی له ميلاده د مخه په اتمه او اوومه پېړۍ کې يې د جوړېدو کار پيل شوی او په سلګونو کاله يې دوام کړی دی داچې دا ديوال د څه لپاره جوړ شوی او څنګه د هغې زمانې چينايانو دا توان اخيستی چې ديوه داسې حيرانوونکي ديوال په جوړولو بريالي شي ؟

په متحد قول په دې هکله د چينايانو ځواب ډېر ساده دی دوی وايي کله چې دوه زره دوه سوه پنځوس کاله د مخه دغه ديوال جوړېده نو اوسنی چين په اوو مختلفو او متخاصمو ملکونو وېشل شوی و او دغو ملکونو به يو بل ته هيڅ پروانه کوله اوتل له يو بل سره په جګړه وو، په نتيجه کې د (چينګ نومي) ملک امپراطور شيږ نورو ملکونوته يو په بل پسې ماتې ورکړه او يوه مضبوطه امپراطوري يې را منځ ته کړه او دا يې غوره وبلله چې د امپراطورۍ دلوروشمالي دښمنانو له بريدونو د خونديتوب لپاره له اوسني چين څخه ديوه کلک ديوال د را څرخولو په کار پيل وکړي. که څه هم دغه لوی او اوږده ديوال نه اوس ديوه نظامي سنګر له نظره نه بلکې ساختماني جوړښت نه يې ديوه لرغوني انساني شاهکار په توګه کتل کيږي چې تل د پام او ستاينې وړدي، همدا علت دی چې ددغه ديوال ليدو ته په عامو وګړو سربيره د نړۍ لويې کړې، ولس مشران، قلمي ستوري او نور نوميالي، ورخې اوننداره يې کوي، په کال کې په مليونو بهرنيي او کورني سيلانيان اوګرځندويان ددغه ديوال پر سر د نورو ميړانو په شان اوږدې ليکې جوړوي او ترې ليدنه او کتنه کوي، په ننداره

کوونکو کې به ليدونکي هغه دي چې ددغه ديوال د لوړې برخې د (شان هاي ګوان) په نوم هسکې کلاته ورخيږي او خان د يوخوشبو لپاره ديوه اټل په ښه وګوري څکه هغه څوک چې ددغه ديوال د لوړې برخې هسکې کلاته وخيږي لوهغه ته يا د چينايانو له خوا اټل ويل کيږي دغه هسکه کلا د (هه بي) او (لياونين) د ولايتونو په سرحد کې واقع ده چې ددغه لوی ديوال مبداء (پيل) هم ګڼل کيږي د (شان های ګوان) لوړه کلا د (شان شان) د غرونو په لړۍ کې پرته ده چې دلته شنه غرونه هسک ولاړ دي، زنې اوښه بهيرې او څپانده سيندونو له غرونواو سمندر سره ګډاره غړۍ يوه داسې عجيبه ښکلې منظره جوړه کړي چې بېلګه يې په جهان کې نشته دا کلا د مينګ امپراطور په زمانه کې ددې لپاره جوړه شوې چې ډېر په موقعيت او له نظامي نظره يې ډېر اهميت درلود څکه له نوموړي کلا څخه غرونه او سمندر په کنټرولېدل دغه ديوال په خپل مسير کې ډېرې نورې کلا ګانې هم لري، دګانسو په ولايت کې د (جايو ګوان)، هسکه کلا ددغه ديوال لوېديځه مبدا ګڼلې شو د ښځو په نامه بله هسکه کلا چې د (شانسي) ولايت د (ينګ ډينګ) په ولسوالۍ کې موقعيت لري ددې تاريخي ديوال ښکلا لوره هم زياتوي دغه کلا چې د موقعيت له پلوه دغره په سختو سخرو کې واقع ده د ستراتيژيک موقعيت له پلوه د (شانسي) ولايت ددروازې مقام هم لري دغه کلا پخوا د (وي خه) په نوم يادېده خو بوې ښهراګۍ د زګونو ښځينه عسکرو په قوماندانۍ د ډېر وخت لپاره په دې کلا کې له خپل ملک نه کلکه دفاع وکړه نو څکه دا دروازه هم دښځو په نوم يادشوه همدارنګه دغه ديوال له دمخه چې وويل شول په خپلو اوږدو کې په هر ستراتيژيک موقعيت کې په بيلا بيلو نومونو لوړې کلاګانې هم لري چې هره يوه يې پخوا له نظامي او اوس له کلتوري اهميت څخه برخمنه ده دغه لوی ديوال د چين په شمال کې موقعيت لري او د لرغونو کلتوري ميراثونو يو خانګړی او حيرانوونکی منظر جوړوي خو په زړه پورې داده چې دغه ديوال ډېر وروسته يانې په ۱۹۸۷ ميلادي کال د نړۍ د کلتوري ميراثونو په لست کې د ملګرو ملتود سازمان ديونسکو د ادارې له خوا ومنل شو دچين ديوال چينايانو ته ډېر لوړ ارزښت او اهميت لري څکه دوی وايي څوک چې په چين کې ژوند کوي يا کوم بهرنی وګړی چې چين ته راځي که دا لوی ديوال ونه ګوري دا په دې مانا ده چې چين يې هيڅ نه دی ليدلی، بل خای وايي چې که څوک لوی ديوال ته نشي ورتلای او يا د هغه لوړو کلاګانو ته نشي ورختلای دا په دې مانا ده چې پياوړی او ښتلي شخصيت هم نه دی د چين د لوی ديوال کارګران ددغه ديوال د جوړولو په زمانه کې په درېو برخو وېشل کېدل، لومړی برخه کارګران يې سرتېري وو څکه دا يو نظامي ديوال و، نو څکه د پوځيانو ونډه په کې ډېره وه بله برخه يې هغه بدبخته جنايان وو چې د امپراطور له امر نه به يې سرغړونه کړې وه او ددغه ديوال په جوړولو کې به يې شاقه کارونه کول او دريمه کټګوري يې ملکي کارګران وو چې د مزد په مقابل کې يې کار کاوه له دمخه چې وويل شول ددغه لوی ديوال مبدا د (هه بي) په ايالت کې ديوې د سمندر په غاړه د (شان هاي ګوان) لوړه او لويه کلا ده او د پای لوړه کلا يې دګان سو په ايالت کې د (جايو ګوان) هسکه کلا ده

کتاب نګرش نو، بر شاهنامه و فردوسي ازچاپ برآمد

اخيرا کتابي تحت عنوان (نګرش نو برشاهنامه و فردوسي) به اهتمام، جستجو، ګردآوري و مقدمه مصطفي (عمرزي) به چاپ رسيده که يک تصور جامع و کلي ورنده ياد از حوادث ورويداد هاي پيشينيان و علي الخصوص مردم افغانستان درعصر امپراطوري سلطان محمود غزنوي درقرن چهارم هجري ميباشد، که درشاهنامه فردوسي به وضاحت ازان تذکر به عمل امده است نګرش شاهنامه زماني صورت ګرفته است که از تاريخ و تاريخ نويسي خبري نبود، اګر بود حوادث و رويداد ها سينه به سينه از يک نسل به نسل ديګربا ضمايم مختلف حکايت ميشد متاخرين وعلي الخصوص ايراني ها در مورد شاهنامه فردوسي و شخصيت فردوسي نظريات ګوناګون وضد ونقيض را ارايه نموده است

منوچهر (اقبال)، وزيرپيشين فرهنګ ايران به نقل از کتاب (سه هزار سال دروغ درتاريخ ايران) مينوسد (شاهنامه فردوسي کتاب پر از دروغ و افسانه ونکي از اسباب عقب مانده ګي فکري ما ايرانيان بوده و است. بيشتر قهرمانان وپادشاهان ايران باستان جز موجودات افسانه يي، غير واقعي ودروغين کي تنها درکتاب سر اندرپا دروغ ((شاهنامه)) و مثل آن، ازان ياد شده، چيزي ديګري نبوده اند که از جمله آن ميتوان به اين افراد خيالي اشاره کرد

کيومرث، جمشيد، فريدون، ګشتاسب، لهراسب، کيکاووس، رستم سهراب و شخصيت هاي خيالي و منفي با فته ي (افراسياب توراني) وګنده بافي هاي ازين ګونه که مادران ګاهي براي خوابانيدن بچه ها داستان هاي سراپا دروغ آنان را تعريف ميکنند و کودک را از همان کودکي ((به فرهنګ دروغ و دروغ بافي ايراني خو ميدهد))

اين تنها منوچهر (اقبال) نبوده که درمورد فردوسي و شاهنامه اش ياوه سرايي هاي نموده بلکه برخي ازنويسندګان ديګري ايراني نيز درمورد فردوسي و شاهنامه اش عفت قلم را رعايت نکرده است پوهاند (نوين) وزيراطلاعات وکلتور کابينه سردار محمد داود خان نظري نيک وسازنده در مورد فردوسي وشاهنامه دارد و درمقدمه کتاب بنام (افغانستان در شاهنامه) که توسط مورخ معروف کشور محمدعلي کهزاد به رشته تحرير آمده، مينويسد (افغانستان در شاهنامه چنانچه از نامش پيدا ست، تحقيق است جامع و

عالمانه درباره آن چهره ها و قصه ها و سنت هاي ديرينه مردم ما که بيشتر اميزه اي از تاريخ و اساطيراند و ارزش هاي زندګي پيشينيان مارا عيان و بيان مي سازند

پوهاند نوين در مورد توصيف شاهنامه مي افزايد. اين اثر صرف نظر از جنبه هاي تحقيقي اش که خود سزاوار ستايش بيشتر است واجد ارزش هاي ديګري نيز ميباشد که بر شمردنش دربس مختصر ممکن نيست با در نظر داشت کتاب جديد اقاي عمرزي، نظريات دو وزير اطلاعات و فرهنګ ويا وه سرايي هاي فرهنګيان (؟) بي مسوليت آن سوي مرز که با کينه توزي هاي تمام شخصيت بزرګ ادبي و فرهنګي (فردوسي) و شاهنامه راجريحه دار نموده و اين موضوع سوال برانګيزمستلزم تحقيقات ادبي بوده که از روي کدام تعصب (؟) ان ها چنين ياوه سرايي بي مسوليت نموده است ؟ وليکن موضوع تا يک سرحد روشن ميباشد. زيرا نتيجه ګيري اخري ما دال بر اين حقيقت ميباشد که در شاهنامه فردوسي ياد آن ارزشهاي افغاني که در زمان اين مرز و بوم به نام اريانا بود، به رشته تحرير اورده شده است شاهاني که در شاهنامه فردوسي ازآن يادګرديده افغانوي نه بلکه شاهاني است که صفحات تاريخ کشورهاي کنوني ماوراء النهروشرق دور به آن صحه ګذاشته است

درا خير تذکر به عمل مي اوريم که (نګرش نو بر شاهنامه فردوسي) اثريست که ماهيت و حقيقت شاهنامه را به ثبوت ميرساند که به عرق ريزي اقاي عمرزي رنګين شده است. اين کتاب که در سال روان در ۲۷۴ صفحه به کميت ۱۰۰۰ جلد در بنګاه انتشارات ميوند واقع در علم ګنج کابل به چاپ رسيده است به سرمايه ادبي و فرهنګي کشور ما غنا بخشيده است درين کتاب مختصر نظريات انانيکه شاهنامه فردوسي از جمله ارزشهاي شان نبوده هم ياد اوري ګرديده و خود آنها به ثبوت رساندند که شاهنامه فردوسي جز ارزش هاي ان ها نه، بلکه متعلق به افغانستان ميباشد.

يعقوب امين

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ او دودونه

روز شنبه 30 قوس از روز جهانی محو خشونت علیه زنان از طرف آمریت جندر با اشتراک معیین امورنشرات، روسا و کارمندان در وزارت اطلاعات و فرهنگ تجلیل بعمل آمد

دراین محفل که با تلاوت آیات کلام الله مجید افتتاح گردید، نخست مطلبی تحت عنوان محو خشونت علیه زنان توسط محبوبه سعادت آمر جندر وزارت اطلاعات و فرهنگ به خوانش گرفته شد. وی گفت مردم افغانستان درمورد عدم خشونت علیه زنان شعار های بسیار شنیده اند؛ شعار های تند و داغ که به محض شنیدن آن جان آدمی را به لرزه در آورده است بحث خشونت با زنان از مواردی است که در سیزده سال گذشته زبانزد گروه های عام و خاص جامعه بوده است

از روز جهانی خشونت علیه زنان هر سال در این کشور تجلیل می شود و سخن های بسیاری در مورد زن و جایگاهش در قانون اساسی و خشونت های که با آن انجام می شود، گفته می شود به سخن دیگر بحث خشونت با زنان سالانه یکبار محافل سیاسی و اجتماعی افغانستان را گرم می کند و بس زنان افغانستان از ناحیه های گوناگونی رنج می برند عده یی از آنها از حقوق شان آگاهی ندارند، برخی از زنان از نعمت سواد محروم اند و شماری زیادی هم با مشکلات زیادی خانوادگی و اجتماعی سر دچار هستند

جامعه افغانستان جامعه سنتی است و در این میان، چندین سال جنگ در کنار آن که هستی مردم را به باد فنا داد بعد از برقراری ثبات نسبی در کشور، دولت افغانستان نیز به جای پرداختن ریشه‌ای به مشکلات زنان به عنوان نیمی از جامعه بحران‌زده افغانستان، با اقداماتی نمادین، سعی در راضی نگهداشتن زنان از راه وانمود کردن به این که «به زنان و حقوق ایشان باید احترام گذاشت»، نمود. در حالی که زنان افغان بیش از هر چیز دیگر، نیازمند به تعلیم و آگاهی از حقوق مدنی و اسلامی هستند، دولت افغانستان متاسفانه نتوانسته که در راستای زدودن مشکلات زنان مخصوصاً خشونت علیه آن‌ها، اقدام مفید و کارا بکند برای زدودن و مهارکردن هر معضل اجتماعی، باید به ریشه‌های آن در اجتماع توجه داشت، ریشه مشکلات زنان مخصوصاً خشونت در عقاید سنتی مردم نهفته است، مردمی که با وجود زندگی در قرن 21، اندیشه‌های ضد زن چند قرن پیش را با خود دارند؛ بنابراین نمی‌توان انتظار داشت این عقاید که در عمق جان مردم ریشه دوانده، به یک باره کنده شده و موضوعات جدید جای‌گزین آن شود، بلکه آرام آرام باید مردم را به سوی علم و آگاهی سوق داد.

عقاید مذهبی نیز در میان مردم افغانستان بسیار ریشه‌دار است، بر این بنیاد، باید از پای‌بندی مردم به عقاید مذهبی در حل مسایل مختلف از جمله محو خشونت علیه زنان سود برد، چون مردم سخت به احکام دینی و اسلامی معتقد و باورمند هستند؛ از این رو، اگر به واقع از دروازه احکام دینی و آموزش‌هایی که دین اسلام راجع به حقوق زنان صادر نموده، وارد شد و از احکامی که خشونت را بر زنان نکوهش کرده، کمک بگیریم و به سراغ مردم رویم، جامعه با آغوش باز این احکام را نسبت به امور زنان و خشونت علیه آنان خواهند پذیرفت و این چیزی

محبوبه سعادت آمر جندر وزارت اطلاعات و فرهنگ:

خشونت علیه زنان افزایش یافته است

است که تجربه ثابت کرده است.

سیزده سال از برقراری دولت و ایجاد فرصت‌های طلایی گذشت؛ در کنار لاینحل ماندن دیگر مشکلات کشور و مردم، مساله خشونت علیه زنان نیز به بحران خانمان‌سوز تبدیل شده که طبعاً نسلی را به چالش خواهد کشانید.

انتخاباتی نیز وعده کرده بودند که درصورت رسیدن به قدرت ، حکومت شان در پست های مهم دولتی جا های شایسته و مناسب را برای زنان در نظرخواهند داشت وی اضافه کرد که وزارت اطلاعات و فرهنگ با درنظرداشت استقامت کاری خود

سپس سمین حسن زاده معین امور نشرات وزارت اطلاعات و فرهنگ صحبت های همه جانبه نموده گفتند

همه میدانیم که پدیده خشونت، یک پدیده جهانی است و نباید به یک روز به نام روز جهانی محو خشونت علیه زنان اکتفا شود، بلکه باید در خوب ترین



بنابراین باید گفت که فعالان و مدعیان حقوق زن باید به خود آمده و پیش از قربانی شدن نسل دیگر از زنان و دختران این سرزمین، دست از شعار بردارند و برای زدودن مشکلات از صحنه اجتماع زنان و کاهش خشونت‌ها علیه آنان، از راه‌های معقول، منطقی و عملی وارد میدان شوند. اکنون از حکومت جدید خواهان توجه جدی برای محو هر نوع خشونت علیه زنان در کشور هستیم بعداً دراین محفل خلیل مینوی رییس آژانس باختر نیز در صحبتی توجه به حقوق زنان را یک امر مهم دانسته گفت که حکومت وحدت ملی توجه زیاد به حقوق خانم ها دارد و درهنگام مبارزات همیشه سعی ورزیده است که حقوق خانم ها را که نیمی ازپیکر جامعه را تشکیل میدهند، ازطریق رسانه های تصویری ، چاپی و شنیداری ، به آگاهی مردم برساند که بدون شک این وزارت با داشتن چنین وسایلی میتواند حقوق زنان را درتمام ابعادش به آگاهی مردم برساند همچنان دراین محفل طاهرحس رییس مالی و اداری وزارت اطلاعات وفرهنگ درارابطه به نقش و ارزش زن درجامعه صحبت نموده و تاکید نمود که محو خشونت علیه زن باید از خانواده ها آغازشود و همه باید بادرنظرداشت احکام دین مقدس اسلام به حقوق زن و اهمیت موجودزن ارج و احترام بگذارند.

فرهنگ انسانی هر روز، روز خشونت علیه زن ها باشد، اما برگزاری محافل و یاد بود از چنین یک روز می تواند که وجدان های خفته را بیدار سازد و نهاد ها چه نهاد های دولتی و چه نهاد های غیر دولتی در حس بیداری از غفلت و سهل انگاری که در جهت بهبود وضعیت زنان و احیای احقاق حقوق شان صورت گرفته مسئولیت های خویش را به صورت بهتر ایفا نمایند افغانستان یک جامعه با سنت های پسندیده و فرهنگ با غنامندی بیش از پنج هزار ساله است و در آموزه های دینی ماسلماً جایگاه زن، جایگاه والا و شایسته بوده و در قرانکریم در سورهٔ النساء که نشان دهنده اهمیت دید دین مبین اسلام از زن است و در آیه دیگر، خداوند(ج) زن و مرد را در خلقت انسانی و در برخورداری از کرامت انسانی مساوی و برابر خلق کرده است و در جای دیگر خداوند(ج) فرموده «بترسید از خدایی که شما را از یک نفس واحد آفرید و از جنس خود شما ازواج شما را آفرید»

سمین حسن زاده افزود امتیازاتی را که خداوند به زن قایل می شود زن را رحمت انگیز ومایه تسکین درد ها معرفی میکند و از نشانه های قدرت خداوند متعال این است که از وجود خود شما زوج های شما را از جنس خود شما آفرید که باعث مهر و عطوفت و تسکین خاطر شما باشد تا رحمت و عطوفت بین شما ایجاد شود زنان در اکثر جوامع جهان سوم از آن حقوق انسانی که باید برخوردار باشند متاسفانه برخوردار نبوده است در مدنیت های قبل از اسلام نگرش ها وتبعیض های وجود داشته است که با ظهور دین مبین اسلام امتیازاتی که راجع به زن خداوند متعال قایل میشود ، انقلاب عظیمی در وضعیت زندگی زنان ایجاد میگردد وزن از زنده به گور شدن نجات پیدا میکند و زن به عنوان یک انسان شایسته کرامت انسانی ، تکریم واحترام در خانواده واجتماع و دارای حقوق مساوی با مرد قلمداد میشود

با کمال تاسف در جامعه اسلامی ما از زمان های دور زنان از سنت های ناپسند و استفاده نا درست از آموزه های دینی که همان با مرد برخور دار اند رنج میبردند در جامعه ما در طول تاریخ زنان محروم بودند ، مظلوم بودند و مورد خشونت قرار گرفته اند خوشبختانه در عصر حاضر که نسیم دموکراسی در کشور ما از سیزده سال بدینسو سایه افگنده والحمدلله حاکمیت قانون داریم و نظام سیاسی شکل گرفت و مردم عزیز ما به آزادی های مختلف دست یافته اند به خصوص در عرصه های سیاسی ، فرهنگی ، اجتماعی واقتصادی با ارزش های دموکراتیک که در طول سیزده سال کاری زیاد کردند از جمله هم بحث زنان است از ابتدای سیزده سال ما دیدیم که زنان از آن دورهٔ اختناق ، دورهٔ قیودات و محدودیت ها رهائی یافتند وارد عرصه اجتماعی شدند ودرهای مکاتب ، پوهنتون ها و ادارات به روی آنها باز شد اکنون با افتخار میتوانیم بگوییم که حدود 25- در صد کارمندان خدمات ملکی را زنان تشکیل میدهد ، در عرصه سیاسی وتصمیم گیری سیاسی 9- درصد زنان افغان فعال بوده ، حدود 40- در صد زنان در سیستم معارف مشغول آموزش های ابتدائی هستند ، حدود 20- فیصد در مؤسسات تحصیلات عالی محروف میباشد، حدود 10- در صد در نهاد های عدلی وقضائی شامل هستند وحتا در صفوف نیروهای مسلح وامنیتی 5- در صد حضور خانم ها را داریم تاکنون چهارهزار قضیه خشونت علیه زنان در سال جاری در کشور در وزارت امور زنان ثبت شده که دوهزار و نه صدو پنجاه مورد خشونت تنها درحوزه کابل ثبت شده است که بسیار تکاندهنده است و رسانه ها به آن رسانه یی برخورد کرده عمیقاً به حل معضل برخورد نکرده اند و به عنوان یک وظیفه و اطلاع رسانی، گزارشی تهیه شد و امار های منتشر گردید

افغانۍ ښځې هم د هېواد د ساتنې لپاره هڅې کوي

د کورنیو چارو وزارت هوډ لري چې د روان کال تر پایه د ښځینه پولیسو شمېره ۵۰۰۰ ته ورسوي. په دې ورستیو کې د کورنیو چارو وزارت ۲۰۰ تنه د ښځینه پولیسو افرانې د لوړو زده کړو لپاره ترکیې ته روانې شوې. د دې وزارت مرستیال اکرام الدین یاور وايي، د ښځینه پولیسو په لیکو کې د ښځینه افرانو له کمښت سره مخ دي، خو نړیوالې ټولنې ورسره ژمنه کړې چې افغانۍ ښځینه افرانې به روزي. هغه زیاته کړه «ترکیه موږ سره نږدې عنعنوي او دیني اړیکې لري، د همدې لپاره مو په لومړۍ مرحله کې سل تنه ښځینه افرانې ترکیې ته ولېږلې چې ډېره ښه تجربه وه. کله چې دوی تر څلور میاشتینو مسلکي زده کړو وروسته بېرته راګرځي، نو که په زده کړو کې یې واړه نواقص موجود وي، موږ یې د پولیسو په اکاډمۍ کې حل کوو.» دغه ۲۰۰ افرانې له ټولو ولایتونو څخه دي. راضیه انوري د غزني ولایت د جاغوري ولسوالۍ راغلې او وايي چې د حبلو زده کړو او مهارتونو د لوړولو لپاره ترکیې ته ځي. نوموړې زیاتوي «موږ چې کابل ته راغلو، نو د لوړو زده کړو لپاره مو د پولیسو په اکاډمۍ کې زده کړې وکړې او اوس موږ ته ویل شوي لوړه شي غواړو دغه بهیر شپږو میاشتو ته وغځېږي او موږ د افرانو په صفت فارغې شو.» د انورۍ په وینا، دا افغانستان وروسته پاتې هېواد دی، دوی باید نړیوالو ته ښیي چې افغانان له جګړې بېزاره دي، نو ځکه افغانۍ ښځې هم د هېواد د ساتنې لپاره هڅې کوي. کامله ازمندیار بله ښځه ده چې له دایکندي ولایت نه ترکیې ته روانه ده، تر څو خپل مهارتونه او مسلکي زده کړې لوړې کړي. نوموړې له نورو ښځو هم غواړي، له هرې لارې چې وي خپلې خاورې ته دې خدمت وکړي. هغه وايي «زه اوس ډېر ښه احساس لرم چې په ترکیه کې زده کړې وکړم او بیا راشم خپل هېواد ته خدمت وکړم.» د کورنیو چارو وزارت مرستیال اکرام الدین یاور وايي، په ترکیه کې د دغو ښځینه افرانو د زده کړو لګښت اروپايي اتحادیې پر غاړه اخیستی دی. دا وزارت هوډ لري چې د ۲۰۱۴ تر پایه د ښځینه پولیسو شمېره ۵۰۰۰ ته ورسوي، په داسې حال کې چې اوس مهال دا شمېره ۲۲۰۰ ده. تر دې مخکې هم ۳۰ تنه افغان پولیسې د لوړو زده کړو لپاره مصر او ۱۲۰ تنه نورې ترکیې ته لېږل شوې وې. د کورنیو چارو وزارت یوې سرچینې مخکې تر دې ویلي وو، امریکا ژمنه کړې چې په امنیتي ښتونو کې به د ښځو د شمېر

دغه سفر د څلورو میاشتو لپاره دی، خو د دې لپاره چې زموږ د زده کړو کچه زیاتېدو لپاره ۲۵ ملیونه ډالره ولګوي

ع، ملاحت

د ملي تیاتر هنرمندان واک ته د سلطان مسعود د رسېدو د ننداري پر جوړولو لګیا دي

دملي تیاتر هنرمندان، دختلي خاتون دکودتا دننداري پر جوړولو بوخت دي او غواړي چې دهېوادوالو دخوښۍ لپاره يې چمتو کړي. ختلي خاتون دستر شهنشاه سلطان محمود غزنوي خور وه، چې دپلار له مړینې وروسته واک ته دسلطان مسعود درسولو پرمهال يې لوی رول لوبولی دی. بله دملي تیاتر دهنرمندانو دظرفیتونو دلوړولو موضوع او همدارنګه دهنري شوونیزو ورکشاپونو د جوړولو موضوع ده، چې دهنرمندانو دپرمختګ لامل کېدای شي. په دې اړه هیواد ورځپاڼې دملي تیاتر د اداري له رئیس عبدالغفور شریعتي سره مرکه کړې چې تاسې درنولوستونکوته وړاندې کیږي

پوښتنه دملي تیاتر هنرمندان دختلي خاتون دکودتا د ننداري پرجوړولو بوخت دي، مهرباني وکړئ اووايي، چې دغه ننداره په کومې موضوع راڅرخیږي؟

ځواب دملي تیاتر هنرمندان واک ته دسلطان مسعود درسېدو دننداري پر جوړولولګیا دي اوپه راتلونکي کې وړاندې کېږي دملي تیاتر هنرمندانو له اتمې هنري جشنوارې وروسته وغوښتل دیوې تاریخي ننداري، چې دافغانستان له تاریخ سره تړاولري اوددوي پر نورو هنري ننداړو هم تمرین اومشق پیل شو د۱۳۹۳ لمریزکال دپیل کېدو په وياړهم دننداري جوړولو چارې پیل شوې دي، دختلي خاتون دکودتاد ننداري ترسرلیک لاندې، ښاغلي جلال نوراني چې ددغې ننداري لیکوال هم دی مهرباني وکړه اونندراه یې دملي تیاتر د اداري په واک کې ورکړه، چې دملي تیاتر هنرمندان اوممثلین یې مشق اوتمرین وکړي اوپه نږدې راتلونکې کې به دغه ننداره وړاندې کړای شي دختلي خاتون دکودتا ننداره په تیروزروکلونو پوې تړاو پیداکوي کله ، چې غزنوي سلطان محمود له نړۍ څخه سترګې پټوي اودهغه دزوی سلطان مسعود دپاچاهۍ دوره پیل کیږي، چې په تولیزه توګه دغه ننداره دمسعود پاچاهۍ ته درسېدو پېښه څرګندوي ختلي خاتون دغزنوي سلطان محمود خور وه اوسلطان محمود دوه زامن دمحمد اومسعود په نومونو لرل، چې دپلار له مړینې وروسته غواړي دپاچاهۍ چارې ترلاسه کړي، خو دهغې دوري مامورین اوخلک محمدته نږدې وو، خو ختلي خاتون واک ته دسلطان محمد درسېدلو مخالفه وه اودسلطان مسعود څخه يې ملاتړ کاوه او دیوې سپینې کودتاطرحه جوړوي له دې پرته ، چې کومه جګړه پېښه شي، واک سلطان مسعود ته سپارې سلطان مسعود هم دافغانستان دتاریخ یو وياړمن پاچاه تیر شوی دی

پوښتنه دملي تیاتر دهنرمندانو دپوهې دکچې د لوړولو په موخه ورکشاپ جوړشوی و، که وواییې، چې دغه ورکشاپ څنګه و؟

ځواب موږ وغوښتل ، چې دملي تیاتر د اداري دکارکوونکو او هنرمندانو دکاري اوهنري ظرفیتونودلوړولو لپاره ، شوونیز ورکشاپونه جوړکړای شي، دغې ورکشاپونه دهیوادهم جوړ کړي وو، چې څه موده وړاندې دبنکلوهنرونو دپوهنځي دهنرمندانو له خوا او دناروې دبارګن تیاتر په ملاتړ دهنرمندانو دپوهې دکچې دلوړولو په تړاو جوړ شوي وو او په ... کې دملي تیاتر دهنرمندانو د[illegible]کلو

هنرونودپوهنځي دهنرمندانو له خوا ترسره شو دملي تیاتر اداره هوډمنه شوه ، چې په ملي تیاتر کې دعلمي ورشکاپونه جوړکړي، چې لومړنی ورکشاپ دموغومي په دویمه مدجوړولو چارې یې وړاندې شوې

ښاغلي عبدالغفور شریعتي

کدرولو په شتون سره ، هنري چارې په معیاري او مسلکي توګه جوړې شي موږ [illegible] غوښتل، چې دظرفیتونو لوړولو او جوړولو لپاره ورکشاپونه جوړ [illegible] شي اوپه اونۍ کې [illegible] ورکشاپ ولري، چې په بیلو بیلو برخو لکه هنري لوبې، دنورجوړونې، انځورپردار، مکیاژ، دصحنوسینګار او همدارنګه ټولې هغه برخې، چې په تیاتر پورې تړاو پیداکوي، دملي تیاتر دکار کوونکوته خوا هنرمندانو او ممثلینوته اوپه دې ډول به په هره اونۍ کې یوه ورځ دملي تیاتر ټول کارکوونکي په ملي تیاتر کې سره راغونډیږي

پوښتنه دملي تیاتر دهنرمندانو غوښتنه، داطلاعاتو او فرهنګ وزارت له نوي مشرتابه څخه څه ده؟

ځواب دملي تیاتر د اداري دکارکوونکو غوښتنه، دنوي مشرتابه څخه داده، چې هنراوهنرمند ته باید ډیره پاملرنه واړول شي، دتیاتر هنردې په پرمختللو هیوادونوکې دفرهنګ په توګه پیژندل کیږي، که موږ وغواړو، چې دهېواد دخلکو فرهنګ په خپل اصلي ځای کې شتون پیداکړي او خلک له ټولو فرهنګي چارو څخه ګټه او پوهه ترلاسه کړي، دا به ډېره ښه وي، چې داطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي مشري په ټولو برخوکې ، چې په دودونو او دهېواد په فرهنګ پورې تړاوپیداکوي باید چې ډېره مرسته وکړي اوپه تیره بیا دهنرپه برخه کې اوس دغو برخو ته دومره پاملرنه نه ده شوې، چې هنرپه هېواد کې وده اوپرمختګ وکړي. هنردهېواد دفرهنګ یوه برخه ده موږ کولای شو دتیاتر دهنرله لارې خلکوته زده کړه اوهوښیاري ورکړو اودخپل ملت دردونه اوخوښۍ څرګندې کړو ا، همدارنګه څه ټولنیزې موضوعګانې موږ کولای شو دهمدې هنر له لارې خلکوته ولیږدوو زما هیله داده، چې داطلاعاتو او فرهنګ وزارت مشري خانګړې پاملرنه دهنر دودې لپاره واړوي، چې موږ وتوانیږو دهېواد د ملي تیاتر هنرمندانوته له نړیوالو معیارونوسره برابره زده کړه ورکړو، چې هنرمندان وتوانیږي دنورو هېوادونو له هنرمندانو سره سیالي وکړي

هیواد ـ نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپورت نړۍ

د ۲۰۱۵ نړیوال جام لپاره افغان کرېکټ لوبډله اعلان شوه

د افغانستان کرېکټ بورډ وايي، د ۲۰۱۵ کال د کرېکټ نړیوال جام سیالیو لپاره یې ۱۵ کسیزه ملي لوبډله اعلام کړې ده. ټاکل شوې، چې دغه لوبغاړي به په عربي متحدو اماراتو کې د سکاټلنډ او آیرلنډ پر

وړاندې او د ۲۰۱۵ کال د استرالیا او نوي زېلنډ نړیوالو سیالیو کې برخه واخلي. د افغانستان د کرېکټ بورډ د ۲۰۱۵ کال د کرېکټ نړیوال جام سیالیو لپاره خپله پنځلس کسیزه ملي لوبډله اعلام کړه. کرېکټ بورډ وايي، دغه لوبډله یې د لوبغاړو د وروستیو اوږدمهاله وړتیاوو او تخنیکي اړخونو په پام کې نیولو سره ټاکلې ده. په پام کې ده، چې نوې ټاکل شوې لوبډله به په متحده عربي امارات کې د سکاټلنډ او

۲۰۱۵ کال کرېکټ نړېوال جام لپاره افغان لوبډله:

د ملي لوبډلې مشر روزونکي انډي مولز رسنیو ته وویل، دغه لوبډله تر اوږدو بحثونو او بشپړې ارزونې وروسته ټاکل شوې ده. دی وايي، چې د ټاکلو په لړ کې یې د هر لوبغاړي وړتیاوې ارزولې او ټولو اړخونو ته یې پام کړی دی. لوبډله به خلور تنه احتیاطي لوبغاړي هم له خان سره ولري چې د شرف الدین اشرف، حشمت شهیدي، شفیق الله شفق او عزت الله دولتزي نومونه په کې دي.

کرېکټ بورډ په یوه اعلامیه کې ویلي، کوم لوبغاړي چې د ټاکنېزې کمېټې له خوا نه دي غوره شوي، لامل یې دا دی چې له معیارونو سره برابر نه وو. په دې

کپتان	۱ - محمد نبي عیسی خېل
مرستیال کپتان	۲ - نوروز منګل
بیټسمن	۳ - محمد اصغر ستانکزی
بیټسمن	۴ - سمیع الله شینواري
وېکټ ساتونکی	۵ - افسر خان ځاځي
بیټسمن	۶ - نجیب الله ځدراڼ
بیټسمن	۷ - ناصر جمال
منډې وهونکی	۸ - میرویس اشرف
منډې وهونکی	۹ - ګلبدین نایب
تېز توپ اچوونکي	۱۰ - حمید حسن
تېز توپ اچوونکي	۱۱ - شاپور ځدراڼ
تېز توپ اچوونکي	۱۲ - دولت ځدراڼ
تېز توپ اچوونکي	۱۳ - افتاب عالم
منډې وهونکی	۱۴ - محمد جاوید احمدي
بیټسمن	۱۵ - عثمان غني
	احتیاطي لوبغاړي
	۱۶ - شفیق الله شفق
	۱۷ - شرف الدین اشرف
	۱۸ - عزت الله دولتزي
	۱۹ - حشمت الله شهیدي

آیرلنډ پروړاندې او د ۲۰۱۵ د نړیوال جام سیالیو کې، چې په استرالیا او نوي زېلنډ کې جوړېږي، برخه واخلي. د ۱۵ کسیزه لوبډله کې شهزاد، شفق، حمزه هوتک او شهیدي نه دي شامل شوي.

په بیټنګ کې استرالیا ته د کوهلي او رهاني تاریخي ځواب

هند او استرالیا تر منځ د دریمې ټیسټ لوبې پر دریمه ورځ بیټنګ کې ویرات کوهلي او اجنکي رهاني تاریخي ملګرتیا وکړه او په ګډه یې ۲۶۲ منډې جوړې کړې. د دوی د ملګرتیا په مټ هند د استرالیا د ۵۳۰ منډو په ځواب کې د دریمې ورځې تر پایه ۴۶۲ منډې کړې وې او ۸ لوبغاړي یې سوځېدلي وو. د سر لوبغاړي مورلي ویجې له ۴۸ منډو وروسته ویرات او رهاني بیټنګ کې ملګرتیا پیل کړه او د هند منډې یې له ۱۴۷ نه ۴۰۹ ته ورسولې. کوهلي پر ۱۶۹ او رهاني پر ۱۴۷ منډو وسوځېدل خو پاتې لوبغاړو بېه لوبه و نه شوای کړای. یو مهال هند پر ۴۰۹ منډو ۳ لوبغاړي له لاسه ورکړي وو خو د استرالیا بالرانو د هند پاتې ۵ لوبغاړي په ۵۳ منډو وسوځول. د استرالیا له خوا تېز بالر راین هریس ۴ او ورو توپ اچونکي نتن لاین ۲ وېکټې ترلاسه کړې.

بل خوا سریلنکا د نیوزیلنډ پر وړاندې د لومړۍ ټیسټ لوبې پر دریمه ورځ بیټنګ کې خپلې مبارزې ته ادامه ورکړه. که څه په لومړي انګز کې ټوله لوبډله یوازې په ۱۳۸ منډو سوځېدلې وه خو په دوهم انګز کې د سریلنکا لوبوهونکو په پرتلیز ډول ښه لوبه ننداریې ته وړاندې کړه. دوی د دریمې ورځې تر پایه ۲۹۳ منډې کړې او ۵ لوبغاړي یې سوځېدلي وو چې د ځوان بېټسمن ډېموت کرونارتنې ۱۵۲ منډې په کې د پام وړ وې. د ده تر څنګ لوبډلمشر انجیلو متیوز د ورځې تر پایه ناسوځېدلي ۵۳ منډې کړې وې. په لومړي انګر کې د نیوزیلنډ ۴۴۱ منډو ته په پام سره،



کوهلي پر ۱۴۹ او رهاني پر ۱۴۷ منډو وسوځېدل خو پاتې لوبغاړو ښه لوبه و نه شوای کړای

سریلنکا اوس هم له نیوزیلنډ ۱۰ منډې شاته دي. د نیوزیلنډ له خوا ټرینټ بولټ ۳ او ټېم ساوتي او جیمي نیشم یوه، یوه وېکټه واخیسته. د سوېلي افریقا او وېسټ انډیز تر منځ په دوهمه ټیسټ لوبه کې بیا کوربه سوېلي افریقا برلاسې ښکاري. دوی د لوبې پر دریمه ورځ ۳۳۱ منډې کړې او ۴ لوبغاړي یې سوځېدلي دي. د سوېلي افریقا د سر لوبغاړي ډین ایلګر او بل ځوان بیټسمین فف ډوپلیس سلیزې ووهلې. د وېسټ انډیز له لوري جیروم ټېلر او شنن ګبریل دوه، دوه او کیروې پیټرز او جېسن هولډر یوه، یوه وېکټه اخیستې ده.

د ملي لوبډلې یو شمېر لوبغاړو په کرېکټ بورډ کې د بدلون ستاینه وکړه

ملي لوبغاړو د نوي مدیریت ټاکنه یو نیک اقدام وباله. دوی زیاته کړه چې، اوس مهال دوی په ذهني ډول خورا آرامه دي او د نوي مدیریت فعالیتونه به په کرېکټ کې د نویو او پراخو لاسته راوړنو لړۍ ته ډېره اغېزمنتیا ورکړي. د کرېکټ

چې، تاسې زموږ ستوري یاست او موږ به ستاسې د خدمتګارانو په توګه په اداري چوکاټ کې اسانتیاوو ته د ودې ورکولو لپاره کار کوو. نوموړي ملي لوبغاړو ته وویل چې دوی باید مدام په لوبه او لوبغالي تمرکز وکړي چې هېواد او

بورډ اجراییوي رییس شفیق الله ستانکزي ملي لوبغاړو ته وویل هېوادوالو ته مدام لاسته راوړنې او ویاړونه راوړي.

سعید اجمل د کرېکټ نړیوال جام په سیالیو کې نه شي لوبېدی

تکړه توپ اچونکي سعید اجمل خپل نوم د کرېکټ ۲۰۱۵ کال نړیوال جام سیالیو لپاره د پاکستان د لوبډلې له لېسته ایستلی دی څکه لا یې د بالنګ په (اکشن) د کرېکټ نړیوالې شورا (آی سي سي) له خوا له ده منل شوې. ۳۷ کلن اجمل په تېرو درېیو کلونو کې د پاکستان له خوا تر ټولو ډېرې وېکټې اخیستې دي. بالنګ کې پر نوموړي سږ کال د سپتمبر په میاشت کې د آی سي سي له خوا بندیز ولګول شو. د اجمل تر څنګ د پاکستان پر الرونډر محمد حفیظ هم د توپ اچونې د ناسمې بڼې له کبله بندیز لګول شوی دی. حفیظ د خپل بالنګ بڼې بدلولو هڅه کړې او اوس غواړي د آی سي سي تر څار لاندې په نوې بڼه د بالنګ

ده. که څه هم د اجمل نوم د پاکستان په لومړنی لېست کې شامل و خو د غیرقانوني بالنګ بڼې له کبله یې نوم له لېسته وایستل شو. نوموړی غواړي تر هغو د بالنګ بڼې پر سمون کار وکړي او د پاکستان په کورنیو سیالیو کې ولوبېږي چې ډاډه شي د آی سي سي ازموینه ترسره کولی شي. د پاکستان د کرېکټ بورډ مشر شهریار خان وویل (سعید اجمل له نړیوال جام خپله لاس په سر شو، موږ په دې خبر وو، که اجمل له نړیوال جام مخکې ازموینه ورکړې او پاتې راشي نو بیایې پر بالنګ یې بندیز تر یو یا دوو نورو کلونو وغځول شي چې دا به د ده د لوبیز ژوند د پای په معنا وو. په ورته وخت کې د پاکستان کرېکټ بورډ نړیوال جام سیالیو او نړدې راتلونکې کې نورو لوبو لپاره د معین خان پر ځای نوید اکرم چیما د لوبډلې د منیجر په توګه ګومارلی دی.

د کرېکټ ۲۰۱۵ کال نړیوال جام په استرالیا او نیوزیلنډ کې د فبرورۍ له ۱۴مې د مارچ تر ۲۹مې ترسره کېږي. افغانستان به د نړیوال جام خپله لومړۍ لوبه د فبرورۍ پر ۱۸مه د بنګله دیش پر وړاندې کوي.

۳۷ کلن اجمل په تېرو درېیو کلونو کې د پاکستان له خوا تر ټولو ډېرې وېکټې اخیستې دي

پاکستان له خوا تر ټولو ډېرې وېکټې اخیستې دي. بالنګ کې پر نوموړي سږ کال د سپتمبر په میاشت کې د آی ازموینه ورکړي. د جنورۍ ۷مه د کرېکټ نړیوال جام سیالیو لپاره د ۱۵ کسیزې لوبډلې د اعلان وروستۍ نېټه

تېنډولکر د نړیوال جام سفیر وټاکل شو

د کرکټ نړیوالې ادارې د دوشنبې په ورځ اعلان وکړ چې دغې ادارې له خوا د هندوستان پخوانی پیاوړی لوبغاړی سچن تېنډولکر د راتلونکي نړیوال جام لپاره سفیر ټاکل شوی. دغه مقام به د تېنډولکر لپاره

نوموړی د هندوستان لپاره په ۲۰۰ ټیسټ او ۴۶۳ یو ورځنیو سیالیو کې لوبېدلی تېنډولکر د کرېکټ نړۍ یو له ځلاندو ستورو څخه ګڼل کېږي. وموړي د هندوستان لپاره ۲۴ کاله لوبه کړې او دغو لوبو کې یې

دوهمه ستره لاسته راوړنه وي. له دې مخکې هم تېنډولکر د ۲۰۱۱ زېږېدیز کې په بنګله دېش او سریلانکا کې د کرېکټ سیالیو لپاره سفیر ټاکل شوی و. د دغه مقام په اساس به تېنډولکر د دغې سیالۍ په اړه د خلکو هڅول او د سیالۍ په پرمختګ او مالي مرستو لپاره د خیني کمپینو هڅولو دنده په غاړه ولري. د کرېکټ دغه سیالۍ به روان کال د فیبرورۍ په میاشت کې نیوزیلنډ او استرالیا کې ترسره شي. تېنډولکر تېر کال له کرېکټ څخه استعفا وکړه

۳۴۳۵۷ منډې جوړې کړې او ۱۰۰ سلیزې یې وهلې دي. تېنډولکر په نړیوالو جامونو کې تر ټولو زیاتو منډو جوړولو رېکارډ لري. نوموړي په نړیوالو جامونو کې ۴۵ لوبې کړې او دغو لوبو کې یې ۲۲۷۸ منډې جوړې کړې.

ریال مادرېد: ګرېټ بېل په ۳۰۰ ملیون یورو هم نه پلورو

د ریال مادرېد شخصي لوبډلې مشرانو د مانچستر یونایټډ لوبډلې ته ویلي چې ګرېټ بېل په ۳۰۰ ملیون یورو هم نه پلورې. منچستر یونایټډ لوبډلې وروسته له هغې د ګرېټ بېل پېرېدلو غوښتنه وکړه چې یوې نجومي دغې لوبډلې ته ویلي چې له ګرېټ بېل سره به دغه لوبډله ډېرې بریاوې تر لاسه کړي. ګرېټ بېل د ریال مادرېد مشر د خوښې لوبغاړی، او د دغې لوبډلې یو له مهمو لوبغاړو څخه دی، چې د هغه په اساس چې ریال مادرېد لوبډله په هېڅ ډول نه غواړي دغه لوبغاړی وپلوري. ګرېټ بېل څه موده مخکې د ډېر اوچت قیمت په بدل کې ریال مادرېد لوبډلې ته راغی خو نوموړي ډېره لږه موده کې خپل ارزښت د ریال مادرېد لوبډلې ته ګرېټ بېل وپلورو نه په ۱۵۰ ملیون

یورو او نه هم په ۳۰۰ ملیون یورو.» بېل اوسمهال ۲۵ کلن دی او کولی شي ډېر پرمختګ وکړي. ثابت کړ. دغه لوبغاړی په ډېرو مهمو سیالیو کې لکه اروپا، د اروپا سوپر جام او د نړۍ شخصي لوبډلو جام کې ښه وځلېد او ځان یې د ریال مادرېد لوبډلې تکړه او مهمو لوبغاړو منځ کې ځای کړ. د ریال مادرېد مشرانو د منچسټر یونایټډ لوبډلې ته وویل «موږ نه غواړو

نیوزیلنډ د سریلانکا لوبډلې ته په ۸ وېکټو ماتې ورکړه

د سریلانکا او نیوزیلنډ ټیسټ لوبه د نیوزیلنډ لوبډلې په بریا پای ته ورسېده. دغه لوبه کې نیوزیلنډ د سریلانکا لوبډلې ته په ۸ وېکټو ماتې ورکړه. د لوبې پچه سریلانکایي لوبډله مشر وګټله او سیالې لوبډلې ته یې د توپ وهنې بلنه ورکړه. نیوزیلنډ لومړی وار توپ وهنه کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۴۴۱ منډې جوړې کړې چې دغو منډو کې د مېککلم ۱۹۵ منډې د یادولو وړ دي. د سریلانکا لپاره لکمل او متیوز درې درې وېکټې اخیستلو سره بنه وځلېدل. سریلانکایي لوبډلې د توپ وهنې په برخه کې پاتې راغلل او خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره یې ۱۳۸ منډې جوړې کړې چې دغو منډو کې ۵۰ منډې د متیوز لخوا جوړې شوې وې. د نیوزیلنډ لپاره بولټ ۳، واګنر ۳، ساوتي ۲ او نیشم ۲ وېکټې واخیستې. نیوزیلنډي لوبډلې بیا هم د سریلانکا لوبډلې ته د توپ وهنې بلنه ورکړه خو دوهم وار توپ وهنه کې سریلانکایي لوبډلې ښه لوبه وکړه او خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۴۰۱ منډې جوړې کړې. دوهم وار توپ وهنه کې کارونراتني ۱۵۲ او متیوز ۶۶ منډې جوړولو سره ښه وځلېدل. د نیوزیلنډ لپاره بیا هم بولټ او ساوتي څلور څلور وېکټې اخیستلو سره ښه وځلېدل. نیوزیلنډ خپل دوهم وار توپ اچونه د یو اسان هدف (۱۰۵ منډې) په تعقیب پیل کړ. نیوزیلنډ خپل دوه لوبغاړي له لاسه ورکولو سره ۱۰۷ منډې جوړې کړې او سیالې لوبډلې ته یې په ۸ وېکټو ماتې ورکړه.

د توغندي لګېدو له امله د والیبال لوبې ۷ نندارچیانو ته مرګ ژوبله واوښته

د میدان وردګو ولایت نرخ ولسوالی د عمرخېلو په ابده خېلو سیمه کې د شنبې په ورځ ناوخته د والیبال په لوبغالي کې د توغندي د لګېدو له امله د دغه لوبې ۷ نندارچیان شهیدان شوي او ۵ نور ټپیان دي. دغه پېښه شنبې مازیګر د نرخ ولسوالی د عمرخېلو حوزې په ابده خېلو سیمه کې د دوو لوبډلو ترمنځ د والیبال د سیالۍ پرمهال رامنځته شوه. د یادې پېښې د یوه تن ټپي روغتیایي وضعیت هم ناډاډمنه ښودل شوی دی. د میدان وردګو سرپرست والي باغلي عبدالمجید خوږیاني پر یاده پېښه خپله ژوره خواشیني څرګنده کړې، شهیدانو ته یې جنت الفردوس، کورنۍ غړو ته یې د زړه صبر او ټپیانو ته یې د بېړنۍ روغتیا هیله کړې. نوموړي د ښوونځیو پر زده کوونکو، لوبغاړو او عامو ولسونو ورته بریدونه نه بښوونکې عمل بللی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصاد او سوداګري

د اسلام د ستر لارښود حضرت محمد مصطفی (ص) نېکمرغه زوکړه

شاه محمود درویش

په واقعیت سره زموږ د تاریخ لومړی پېر او هغه وخت پیل شو چې پاک الله (ج) ښکلې مکرمې له اطلو څخه حضرت محمد(ص) نبوت ته غوره کړ او هغه ته یې امر وکړ چې دانسانی ژوند بنسټ د پاک خدای (ج) په توحید، پر آخرت په ایمان لرلو، دالهي رسالت پرمنامت او له هغه څخه په پیروی اینګک او پیاوړی کړي. حضرت رسول اکرم (ص) د عبدالله زوی او د عبدالمطلب لمسی و، مور یې بي بي

خلوتیت: کلي و، چې قرآن کریم د پاک الله (ج) له لوري د حضرت جبرئیل امین په واسطه آیت آیت پرې نازل شو، مبارک اپونه د «درویشو» کلونو او پنځو کې پر حضرت محمد (ص) بشیر نازل شول او خپله حضرت محمد (ص) هم په خلوتیت کلي کې د پیغمبري سپېڅلي دندې له مبعوث شو، په خپلو روایاتو او دلیکوالو په لیکنو کې هم داسې راغلي دي، کله چې حضرت محمد (ص) د خالق متعال له پلوه

او تقدیر داسې نه و، بلکې په خپله هغه کسان یې چې د هغه مبارک د لارې خدمتګر، خپل د زمانې په اوږدو سره د خپلو اعمالو او نارواچارو په سزا ورسول او یاد شوي خیني د اسلام د سپېڅلي دین رښتیني پیروان شول. حضرت محمد (ص) له کوچنیوالي څخه ډېر هوښیار او ډېر اخلاقو لرونکي و، له ځوانۍ له په رسیدو سره یې په سوداګرۍ پیل وکړ. بي بي خدیجې: خپلې د سوداګرۍ چارې د هغه مبارک له وسپارلې، بیا وروسته یې واده هم ورسره وکړ. حضرت محمد (ص) د کار په دوره امانتدارۍ، رښتینوب او صداقت سره ترسره کړ چې د امین لقب یې خپل کړ او په عربو کې په امین مشهور شو. بیا ورسته یې د عبادت له پاره د «حرا» غار ځای ته غوره کړ او په هم هغه ځای کې د جبرئیل امین په واسطه لومړنی پنځه آیتونه د «اقرا» په نوم وربادي نازل شول چې له هغه سره سم جناب حضرت محمد (ص) ته د اسلام ستر لارښود او وروستی پیغمبر د پاک الله (ج) د عبادت کولو له پاره د دعوت ستره دنده ورپه غاړه شوه او جناب رسول اکرم (ص) د پاک الله (ج) له حکمونو سره سم د دعوت کار پیل او د ژوند تر وروستي شیبې پورې یې دغه عظیم مسوولیت په ښه توګه پرمخ بوړ او د اسلام نورانی په ټوله نړۍ کې خپور کړ، نو له شکه چې اوس هم دا د هر مومن مسلمان او په تیره د علماوو کرامو مسوولیت دی چې په ګردې بشري نړۍ کې د اسلام مبین دین له د دعوت چارې پرمخ یوسي او د جناب حضرت محمد (ص) په نقش قدم باندې پرمخ ولاړ شي ترڅو چې دنیوي او اخروي نېکمرغي یې په برخه شي



آمنه او رضایي مور یې بي بي حلیمه نومېده، حضرت محمد (ص) په «۵۷۱» میلادي کال د ربیع الاول په دولسمه نېټه

د دوشنبې په شپه د مکې مکرمې په ښار کې سترګې نړۍ ته پرانیستلې او د هغه مبارک ورځ له همدې امله د اسلام د ستر لاجي د زوکړې ورځ ده او د مولود شریف په نامه یادېږي، د اسلام د ستر لارښود له زېږېدو مخکې د هغه بزرګوار پلار عبدالله مړ شو او شپږ کلنی په عمر د هغه مور وفات شوه او په «۸» کلنۍ یې نیکه ابوطالب هم وفات شو، پاک خدای (ج) په کوچنیوالي کې خپل حبیب یتیم کړ، او د هغه په مبارک وجود کې یې خپله خدايي ځرګنده کړه، هغه حضرت

دغه عظیم امر ته موظف شو او د اسلامي شریعت د احکامو تبلیغ دنده ورپه غاړه شوه، نه زیاتو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شو. ځکه لومړنی له دوهمه پېړۍ سره لاس او ګرېوان وه چې د حق او حقیقت داورېدو له پاره یې امکانات لرل، نو همدغه علت او موجب و، چې دالهي رسالت او آسماني لارښوونو پروړاندې ځنډونه پیدا کېدل او هغه د ډېر مخنګک مخه نیول کېدل، آن تردې چې خیني کفار د حضرت محمد (ص) د ښه منځه وړلو په تکل کې شول او غوښتل یې دغه الهي نور او دلارې خراغ چې د دوی د ظلم او تیرې د مخنیوي له پاره نازل شوی و له منځه یوسي، خو الهي حکمت

خلکو ته د کار د زمینې د برابرولو او د کورنیو تولیداتو د پراختیا پر مټ اقتصاد وده کوي

کارګران او بزګران د هېواد په سوکالۍ او پرمختګ کې ډېر رول لري او له دې حقیقت څخه څوک سترګې نه شي پټولای. په افغانستان کې د جګړو د دوام له امله تولیدي فابریکو او د کرنې کاروبارونو او څمکو ته ډېر زیانونه ورسېدل او په پایله کې کارګران او بزګران وزګار شول چې دا تر ننه پورې دوام لري او باید، چې دغې کړکېچ ته د پای ټکی ورکړل شي په دې اړه هېواد ورځپاڼې د افغانستان د کارګرانو د ملي اتحادیې له دویم مرستیال غلام علي «بریال» سره مرکه کړې، چې تاسې یې لوستونکو ته وړاندې کوو:

پوښتنه: د اقتصادي ودې له پاره باید څه وکړو؟

ځواب: کارګرانو ته د کار د زمینې برابرولو او لویدو له لارې اقتصادي پرمختیا منځ ته راتلای شي د افغانستان د کارګرانو او کار کوونکو ملي اتحادیه په دې اند ده، چې په هېواد کې له اقتصادي پلوه بنسټیزې چارې ترسره شي، چې دغه کارونه په خانګړې توګه د کرنې د میکانیزه کولو له پاره، داوبو د مهارولو او همدارنګه د بندونو د جوړولو له پاره او هغو فابریکو او کارخانو، چې کلونه کلونه یې په هېواد کې فعالیت لاره او اوس له فعالیت څخه لوېدلې دي د هغو دفعالولو او بیار غاولې له پاره او همدارنګه د کانونو د یوه منظم پلان له مخې د هغې د راایستلو له پاره باید کار وشي. یوه ډېره مهمه مسئله چې تر اوسه پورې په افغانستان کې نه ده آواره شوې، هغه داده، چې د غیر رسمي اقتصاد چې په هېواد کې هیڅ عاید نه هغه څخه نه ترلاسه کېږي. هغه د دست فروشانو او پلورونکو ستونزو ده چې د دغه بېوزلي کسان د هېواد په بېلابېلو ښارونو کې په کار بوخت دي، خو له بده مرغه، چې دولت د دوی د ستونزو د لرې کولو له پاره پاملرنه نه ده کړې او یا د قانونیت خواته یې نه دي بولي د

دوی د قانوني کېدو له لارې د افغانستان حکومت په میلیونو افغانۍ عاید ترلاسه کولای شوای

او همدارنګه د مالیاتو د منظم راټولولو له لارې، تردې شیبې، چې موږ ګورو په ګمرکاتو کې نورماتونه، چې له بهر څخه راوړل کېږي د هغو له پاره د مالیې د راټولولو تنظیم شوي کارونه نه دي ترسره شوي د افغانستان د کارګرانو اتحادیه په دې اند ده، چې که چېرې دولت د ذکر شویو مسئلو له پاملرنه وکړي، انشاء الله افغانستان به د یو خپلواک او پرخپلو پښو د درېدلي اقتصاد خاوند شي.

پوښتنه: د کارګرانو د وزګارتیا د لرې کولو لپاره کومه لاره غوره بولئ؟

ځواب: دا یو تریخ واقعیت دی، چې په افغانستان کې په میلیونونو کسان وزګار دي او د وزګارتیا د ستونزې له امله په بېلابېلو فسادونو کې ښکېل شوي دي، چې له هغې جملې څخه یوه طبقه هیرویین څکوونکې دي، چې د ښار په هره برخه کې چې وګورئ لیدل کېږي، یا هغه کسان، چې په افغانستان کې په ځان وژونکو او انتحاري او انفجاري عملونو لاس پورې کوي د اټولې ستونزې د وزګارتیا څخه زېږېدلي دي. که چېرې د افغانستان دولت منظم او مشخص پلان په تېره بیا د کار او ټولنیزو چارو وزارت او همدارنګه سکتوري وزارتونه ورګړي او له

مخې یې اقدامات وکړي، هغه را بدمرغي او ناخوالي به له منځه یوړلای شي. دولت باید یوه هراړخیزه ستراتیژي د وزګارتیا د ستونزې د له منځه وړلو له پاره جوړه کړي

او داخېره له امنیت سره تړلې ده. که چېرې امنیت او د کار زمینه خلکو ته برابره کړای شي، موږ په دې اند یو، چې په ډېره توګه ستونزې له منځه تللی شي. د کارګرانو او کارکوونکو ملي اتحادیې له کلونو راهیسې خپلې دغه غوښتنې دولت ته ورکړې دي



ښاغلی غلام علي بریال

موږ هیله من یو، چې نوی دولت به په دې باندې بریالی شي، چې یوه ځانګړې ستراتیژي د وزګارتیا او نا امنۍ د له منځه وړلو له پاره ولري، دولت اوس په دې اړه کار کوي که چېرې دغه چارې ترسره شي، نو افغانستان او خلک به یې نېکمرغه او په ژوند کې بریالي شي

پوښتنه: اوس د کارګرانو وضعیت په څه حال کې دی؟

ځواب: د کارګرانو ملي اتحادیه اوس په دې اند ده، چې کارګران په ناوړه او ناانډیمن حالت کې دي، په دې مانا، چې تر دغې شیبې، چې سره خبرې کوو یوه کاري منظمه ډېره سواندې کابینه، چې ورته چټکه اړتیا ده، باید چې پارلمان ته وروپېژندل شي او به وزارتونو کې هغه کسان، چې

سلکي، هېوادپال، پوه او ډېره سواندي وي وزارتونو ته وروپېژندل شي او پرډغو پیل وکړي او بیا د کار کولو ځانګړې ستراتیژي ولري کېدای شي، چې افغانستان له کړکېچن او بحراني حالت څخه خلاصون ومومي. اوس کارګران په کابل او ولایتونو کې حیران او سرګردانه ګرځي او هره ورځ په لس ګونو زره کارګران په چوکونو کې ولاړ دي، چې ورته هیڅ ډول کارنه شته. زموږ په اند د کار اوسنی قانون؟ چې دیباکتني خواته ځي په دې کې د کارګرانو د ژوند دښه کولو او د کار د زمینې د برابرولو لپاره باید مواد په کې ځای پرځای شي. موږ هیله لرو، چې دغه چارې په ګړندۍ توګه ترسره شي

پوښتنه: د کارګرانو د اقتصادي ودې لپاره ستاسې غوښتنه له نوي دولت څخه ده؟

ځواب: د کارګرانو ملي اتحادیه له نوي دولت څخه غوښتنه لري، چې کارګرانو ته دې د کار زمینه برابره کړای شي او که چېرې دولت دغه کار، ونه کړي لکه د پلونو او سړکونو جوړول او همدارنګه کانونه راوایستل شي او داوبو او برېښنا بندونه جوړ نه کړای شي، موږ به له دغو پرابلمونو سره، چې ورته مخ کوله ونیوله منځ پسونو ته ډېر هیله داده، چې نوی دولت

، چې د ښاغلي محمد اشرف غني په مشرۍ رامنځ ته شوی دی موږ عملاً ورځخه د کارګرانو د کار د زمینې برابرول غواړو

هېواد _ نوري

د جرمني لښکر هم په هدفمنو

او د هلوي پر ځنګلونو هوايي بریدونه کوي په جرمني کې له کلونو راهیسې پر دې بحث روان دی، چې د دغه هېواد لښکر او استخباراتي سازمان د یې پیلوټه الوتکو په برغلونو کې څه ډول ونډه لري. په افغانستان کې د ناټو په مشرتوب له پوځي ماموریت تر ۱۳ کلن جنګ وروسته پای ته رسېږي په دغه ماموریت کې د جرمني د لښکر نودي په څه زره عسکر وو په راتلونکي غیر جنګي ماموریت کې چې د جنورۍ میاشتې له لومړۍ نېټې په د «ریزلیوټ سپورټ مشن» په نوم د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې، او سلامشورو په موخه پیل شي جرمني به ۸۵۰ عسکر ولري

استخباراتو اداري «بي ان ډي» موافقه کړې وه چې د یوه سعدستي خطر په موجودیت کې، کېدای شي چې په راټول شویو معلوماتو څخه په «هدفمنو وژنو» کې کار واخیستل شي. پیلډو رځپاڼه په ۲۰۱۱م کال کې د جرمني د استخباراتو اداري د یوه راپور په حواله، چې د طالبانو د قوماندان قاري یوسف په اړه وو لیکلي: «له دغو معلوماتو څخه په هدفمنو وژنو کې د مقابل برید پاڼکي په مقابل کې کار اخیستل جواز لري.» پر دې سربېره د جرمني د ملاتړ استخباراتو د قاري یوسف د ځای پیدا کولو په مخه یو شمېر ټیلیفوني شمېرې هم د هغوی په اختیار کې ورکړې وي. د افغانستان او پاکستان پر فضا کې کلونو راهیسې د امریکا هوايي پوځ الوتکي ګوي او پر وسله والو بانکیو

د ملي پروژو کنټرول او پیاوړي مدیریت سخته

په برخه کې پر نورو باندې ... کولو څخه را ووځو. جمهور رییس غني ټینګار کړه چې د فواید ملي وزارت دې د پروژو او د هغو د مالي سرچینو مدیریت را منځته کړي او ددې لارې باید د سړک جوړولو قیمت رالټیټ او کیفیت یې لوړ شي. ځکه افغانستان به او سیبو شرایطو کې د لوړو قیمتونو توان نه لري موږ د ښاغلي ولسمشر د دغه پلان نود هرکلی کوو، هغه به له دې وروسته د دغه پلان له مخې د انجنیري په ډګر کې کادرونه هم تشخیص کړي، ځکه څه موده وړاندې یې د هېواد د رغښتو شرکتونو ته ګیو استازو سره په لیدنه کې له هغوی په

ګټه ولټوي، چې مسلکي انجنیران په ګوته کړي، ځکه تر اوسه پورې مسلکي او نامسلکي کس د رغښتیو شرکتونو اجازه لیکونه اخیستي وو او کله به چې د بهرنیو مرستو پر مټ کومې پروژې را وایستل شوې نو تر لاسه کولو به یې او یا به یې پر بل شرکت پلورلې، دا ډول شرکتونه په هېواد کې زیات ډېر دي او په پام کې ده، چې حکومت به یې چانې کړي او هغه ملي شرکتونه به د مالي ګټر ته را وړي، چې د سترو پروژو د ښې کولو وس او وړتیا ولري. په همدې هیله ولسمشر د به دغه پلان او د هېواد په نورو چارو کې د بریا دعا کوو

افغان اعلانات

چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند
5842

◆ ◆ ◆ ◆

ریاست معارف شهر کابل غرض تدریس شاګردان لیسه دوغ اباد به یک درب حویلی که حداقل 10 اطاق ویا بیشتر از آن داشته باشد ضرورت دارد. اشخاصی که درساحه نواباد دوغ اباد همچو تعمیر داشته باشند وطور کرایه بدهند درخواست های خویش را ازنشراعلان الی بیست ویک روز کاری به مدیریت عمومی تهیه وتدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند 5843

◆ ◆ ◆ ◆

شرکت مختلط وسهامی افسوتر مقدار اهن باب سامان الات وپرزه جات داغمه ومستعمل مواده جات خویش را ازطریق لیلام بفروش میرساند. اشخاص حکمی وحقیقی واجد شرایط که خواهش خریداری اجناس مذکور را داشته باشد خود ویا نماینده قانونی خویش رأساعت 30 :9 قبل ازظهر روز 1393/10/17 به دفتر آمریت عمومی تخنیکی یک افسوتر واقع حصه اول خیرخانه مراجعه نمایند تضمین اخذ میګردد 5841

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد پاسپورت نمبر 00181452 به اسم حبیب الرحمن فیض مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد پاسپورت کمپیوتری دارای نمبر 0253691-5 به اسم عبدالفرید رسولی ولد نورمحمد مفقود ګردیده از اعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد جواز سیر موتر پلیت 2134 خوست به اسم محمد رسول ولد محمد حسن مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد جواز نمبر 196 به اسم شرکت خدمات توریستی نجیب الله محمدی در مسیر راه کندهار کابل مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

• حرکت از اداره سرک الی چهل ستون ورګشت موتر استاله
• حرکت از اداره ایستګاه عیسی خیل پغمان رفت وبرګشت موتر استاله
• حرکت از اداره الی کمپنی کمپنی رفت وبرګشت موتر استاله
• حرکت از اداره قابینی های ریشخور رفت وبرګشت موتر کاستر
• حرکت از اداره پل خشک قلعه نو موتر کاستر

خط السیر طور دقیق درشرطنامه ذکر است موسسات وشرکت های ترانسپورتی ومسافربری راجستر شده که خواهش قرارداد انرا داشته باشند درخواست های خویش را ازنشراعلان الی بیست ویک روز به آمریت تهیه وتدارکات تسلیم نموده شرطنامه را در سی دی اخذ نمایند. ادرس اداره ملی ستخدد انسا سرک کابل جلال اباد سرک نو همجوار ریاست افسوتر شماره تماس 0752041446 5848

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد سند 2453 کراچی مربوط رهنمای مبریکت دارنده جواز 3638 مورخ 92/12/14

واقع دوصد فامیلی رحمن مینه مربوط ناحیه هشتم به اسم حاجی عین الدین ولد حاجی امیرالدین مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

ریاست معارف شهر کابل غرض تدریس شاګردان لیسه دوغ اباد به یک درب حویلی که حداقل 10 اطاق ویا بیشتر از آن داشته باشد ضرورت دارد. اشخاصی که ساحه ناحیه سیزدهم داشته باشند وطور کرایه بدهند درخواست های خویش را ازنشراعلان الی بیست ویک روز کاری به مدیریت عمومی تهیه وتدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته

که حداقل 5 اطاق ویا بیشتر از ان داشته باشد ضرورت دارد. اشخاصی که ساحه نهٔ کارته نو همچو تعمیر داشته باشند وطور کرایه بدهند درخواست های خویش را ازنشراعلان الی بیست ویک روز کاری به مدیریت عمومی تهیه وتدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته چهار سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند 5852

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد پاسپورت نمبر 00183231 سیاحتی به اسم الحاج ګل ولد دین ګل مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

یک ورق نمبر تشخیصیه مالیاتی به اسم رستورانت حاجی محمد حسین وتلیم مکرویان اول مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

ریاست ګمرک کابل درنظر دارد به تعداد 13 قلم اموال مختلف النوع ضبطی خویش را درهنګر های ریاست ګمرک کابل موجود میباشد درمحضر هیات مختلط لیلام نماید. اشخاصی که خواهش خریداری انرا داشته باشند میتوانند بتاریخ 1393/10/15 روز دوشنبه ساعت ده بجه جهت اشتراک لیلام در ریاست ګمرک کابل حاضر باشند تضمین اخذ میګردد 5850

◆ ◆ ◆ ◆

اداره ملی ستخدد بخاطر انتقال کارمندان خویش برای سال مالی 1394 درهفت مسیر که قرار ذیل است

• حرکت از اداره سرک نو الی سیاه سنګ رفت وبرګشت موتر استاله
• حرکت از اداره سرک نو شیوکی بالاتر مموری رفت وبرګشت موتر استاله

کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان به خدمات انترنتی برای ده دفتر ساحوی وولایتی خویش در ولایات کندز، ګردیز، بدخشان، دایکندی، بامیان، غور، ارزګان، فاریاب، دفتر ساحوی کابل ودفتر مرکزی به سرعتهای مختلف با سرعت مجموعی 11MB/11MB مطابق مشخصات برای سال 2015 ضرورت دارد شرکت های داخلی وخارجی که خواهش ارائه خدمات را به نرخ نازل داشته باشند آفرهای خود را سربسته بعد از نشر اعلان الی 21 یوم کاری به منیجر عملیاتی کمیسیون واقع پل سرخ کارته سه سپرده شرطنامه ومشخصات را ملاحظه کرده میتوانند. جهت معلومات ووضاحت بیشتر، داوطلبان علاقه مند میتوانند در جلسه قبل از آفرګشائی و مناقصه که بتاریخ 1393/10/22 ساعت 9 قبل از ظهر درسالون جلسات دفتر مرکزی کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان دائر میګردد اشتراک نمایند. آفرګشائی ومجلس مناقصه به تاریخ 1393/11/4 ساعت 9 قبل از ظهر در سالون جلسات دفتر مرکزی کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان صورت میګیرد

◆ ◆ ◆ ◆

ریاست محکمه ابتدائیه ولسوالی ورس ولایت بامیان به اطلاع رضا ولد محمد بیګ ولسیت حاجی عباس مسکونه نیک ونسوانی ورس میرساند تاجهت دعوی حق العبدی قتل پسر محمد رحیم ولد محققی وتسیت علی جان ازنشراعلان الی پنځه روز بریاست محکمه ابتدائیه ولسوالی ورس ولایت بامیان حاضر شوند در غیر آن فیصله غیابی صورت ګرفته وانګاه حق شکایت را نخواهد داشت 5948

◆ ◆ ◆ ◆

یک جلد جواز به اسم شرکت لوژستیکی میرث امپایر لمتد مفقود ګردیده ازاعتبارساقط است

◆ ◆ ◆ ◆

ریاست معارف شهر کابل غرض تدریس شاګردان مکتب ابتدائیه داکتر ... به یک درب حویلی

د پاکستان سره سوداګریزې ستونزې لا نه دي حل شوي

افغان سوداګر وایي چې اسلام اباد ته د جمهور رییس محمد اشرف غني د سفر نه د یوې میاشتې په تېرېدلو سره لا هم پاکستاني چارواکو د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ترانزیټي سوداګرۍ په برخه کې د پرتو ستونزو د حلولو له پاره خپلې وعدې نه دي عملي کړي. تردې یوه میاشت وړاندې جمهور رییس غني پاکستان د خپل سفر په وخت پاکستاني چارواکو سره په دغه هېواد کې د افغان سوداګرو د ستونزو د حل له پاره یو لړ وعدې کړې وې. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې مرستیال خان جان الکوزی وايي چې پاکستان ته د ښاغلي غني د سفر په وخت پاکستاني چارواکو د ۲۴ ساعتونو او ۴۸ ساعتونو په موده کې د یو شمېر ستونزو د

سوداګرۍ او صنایعو د خونې مرستیال وایي لږ تر لږه عمده مسلې چې د پاکستان له لارې افغان سوداګر ورسره مخ دي یوه یې د کراچۍ په بندر کې د افغان سوداګرو د مال د تشریح کولو او د ګمرکي مسله ده چې اوس هم د پنځلسو نه تر شلو ورځو پورې وخت اخلي او بله مسله د کراچۍ د بندر نه تر پېښور د افغان سوداګرو د مالونو په سر د زیاتې کرايې مسله ده چې یوازې د پاکستان د یوه ټرانسپورټي شرکت له لارې دا مالونه انتقالېږي. ښاغلي الکوزي وویل: په بازار کې د یو موټر کرایه ده دوه لکه ده تر منځ دوی له هم پنځه لکه اخلي دا یو ظالمانه حرکت دی د نړۍ په هیڅ ځای کې په ترانزیټي اصولو کې دا نشته چې د بهرنیو سوداګرو د مالونو لپاره به یو قانون

ستونزې شته دي، الکوزي باوري هم چې په راتلونکو ورځو کې به اسلام اباد ته د افغانستان د هیات د سفر وروسته دا ستونزې حل شي. ځکه چې پخوا د پاکستان صدراعظم نوازشریف د دغو ستونزو د هوارولو وعده کړې وه». ښاغلي فوقندي وایي چې د پاکستان حکومت د افغان سوداګرو د ستونزو د هوارولو لپاره تر ۹۰ ورځو پورې موده ټاکلې چې لا هم نوې ورځې په مخ کې دي او هیله ده چې ستونزې به په دغه موده کې حل شي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې چارواکي وايي چې ټاکل شوي دا هیات به په اوونۍ د روانې عیسوي میاشتې په پوره شمه او یا هم د جنورۍ په لومړۍ ورځ اسلام اباد ته لاړ شي. د پاکستان د سوداګرۍ وزیر انجنیر دستګیر خان تېره اوونۍ په اسلام اباد کې خبریالانو ته وویل چې هېواد یې غواړي بل کال ته له افغانستان سره د سوداګرۍ کچه دوه چنده زیاته کړي. پاکستان حکومت هیله لري چې افغانستان سره د سوداګرۍ په برخه کې ستونزې به د اپیکا د کمیسیون له لارې حل کړي د همدې له امله پاکستاني چارواکي د اپیکا غونډې د جوړېدو غوښتنه کوي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اپیکا کمیسیون چې تر ډېره حده تخنیکي مسلو په باب کار کوي د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزیټ او

حلولو وعده کړې وه چې تر اوسه لا هم پرې عمل نه دی شوی. خان جان الکوزي امریکا غږ سره په مرکه کې وویل چې پاکستان ته د جمهور رییس غني د سفر وروسته افغانستان او پاکستان یوازې د دواړو هېوادونو د سوداګرو لپاره د ویزې اسانتیاوو برابرې کړې دي. ښاغلي الکوزي وویل «تر اوسه نوې مسلې یوه د پاسپورټ او ویزې مسله ده چې د سوداګرو لپاره یې دواړو خواوو حل کړې ده. او بله مسله د جواز مسله ده چې افغان سوداګرو ته به په کراچۍ کې غوښته اوس جواز نه غواړي او په نورو لپه لس مسلو چې اتفاق شوي وو نوې مسلې یې حل شوې او پاتې نورې لا حل نه دي.» د افغانستان د

جوړوي او د خپلو خلکو لپاره به بل قانون». د افغانستان سوداګرۍ او صنایعو وزارت هم منلې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې ډېرې ستونزې هوارې شوې نه دي خو د هغې لپاره یوازې لا ورځې شته چې پاکستاني چارواکو ته افغان جمهور رییس له د هوارولو وعده کړې ده. د دغه وزارت ویاند مسافر قوقندي امریکا غږ ته وویل چې ډېر ژر به د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت یو هیات د ستونزو د هوارولو په سر د خبرو لپاره پاکستان ته لاړ شي. ښاغلي قوقندي وایي چې اسلام اباد ته د هیات د سفر نېټه لا نه ده ټاکل شوې. هغه وویل: «هغې چې موږ یې غواړو اوس هم د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخو کې

سوداګرۍ په برخه کې د لاسلیک شوي تړون اړتیا نه مخې جوړ شوي دي. په افغانستان او پاکستان کې سیاسي او امنیتي ستونزو د دواړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ هم اغېزه کړې ده. په اوس وخت کې افغانستان او پاکستان په خپلو کې د دوه نیم میلیارده ډالره په ارزښت راکړه ورکړه لري. افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت وایي چې لږ تر لږه فیصدو پورې یې پاکستان ته صادرات زیات شوي دي. دا وزارت وایي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د رسمي سوداګرۍ سربېره هر کال تر اوه سوه میلیونو ډالرو پورې د قاچاق له لارې هم راکړه ورکړه ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد
HEWAD DAILY
سیاسي - اقتصادي ورځپاڼه

چهارشنبه د ۱۳۹۳ ل د مرغومي ۱۰ مه د ۱۴۳۶ ق د ربیع الاول ۹ مه د 31/12/2014

په کرمې ایجنسۍ کې ښوونځي سوځول شوي

وسله والو پرون سهار په کرمه ایجنسۍ کې دوو ابتدایه ښوونځیو ته په داسې حال کې اور واچاوه چې چارواکو د وسله والو د حملو دګواښونو له امله د زدکړې ښوونځي په کرمه کې وسله وال طالبان د شیعه ګانو پر ضد جګړو کې ښکیل دي او په دې سیمه کې له اوږدې مودې راهیسې شخړې روانې دي. د کرمې ایجنسۍ یوه جګ پوړي چارواکي امجد علي خان فرانسپرس آژانس ته وویل: حمله کوونکو د ښوونځیو میزونه، څوکۍ، کتابونه او لوازم راویستل، تیل یې ورباندې وپاشل او اور یې ورته کړ ده وویل، د ښوونځیو ټول اسناد له منځه وړل شوي او ودانیو ته زیان اوښتي دي تر اوسه کومې ډلې د دغه عمل مسولیت نه دی منلی. خو خان وایي، دا د طالبانو کار دی. دا چې ښوونځي د ژمي د رخصتیو لپاره تړل شوي، په حملو کې چاته مرګ ژوبله نه ده اوښتې.

د افغانۍ بیه او پلور

پرون له غرمې مخ کې د کابل په شهزاده سرای کې افغانۍ د بهرنیو اسعارو په وړاندې په دې ډول بدلېده

یو امریکايي ډالر پیرودل په 58/30 افغانیو پلورل په 58/35 افغانیو
یو انګلیسي پونډ پیرودل په 90/80 افغانیو پلورل په 90/90 افغانیو
یو یورو پیرودل په 70/80 افغانیو پلورل په 70/90 افغانیو
یو سعودي ریال پیرودل په 15/45 افغانیو پلورل 15/50 افغانیو
د امارات یو درهم پیرودل په 15/85 افغانیو پلورل په 15/90 افغانیو
زر پاکستاني کلدارې پیرودل په 573 افغانیو پلورل په 574 افغانیو
زر هندي کلدارې پیرودل په 930 افغانیو پلورل په 940 افغانیو
او زر ایراني تومانه پیرودل په 16/30 افغانیو پلورل په 16/35 افغانیو

«په ایران کې دې د افغان کډوالو ستونزې حل شي»

مظاهره چیانو له افغان حکومت هم وغوښتل چې له ایران سره دې په دوستانه اړیکو له سره غور وکړي او هڅې وکړي چې ژر کېدای شي په ایران کې د افغان مهاجرو ستونزې حل کړي.

په کابل ښار کې لسګونو تنو د ایراني چارواکو له خوا په دغه هیواد کې افغان کډوالو سره د ناوړه چلند په غبرګونه کې مظاهره وکړه. مظاهره چیانو چې د عدالت او برابرۍ نارې وهلې له ګډوالې ټولنې او افغان حکومت نه وغوښتل چې په افغان کډوال وژل شوي دغه شان په ټولنیزو رسنیو کې یو شمېر داسې ویډیوګانې خپرې شوې چې افغان کډوالو ته په کې سپکاوی شوی دی. د ایراني چارواکو دغه چلند د افغانانو غوسه راوپاروله او په غبرګون کې مظاهره وکړه مظاهره

ایران کې د افغان کډوالو د ستونزو په حل کې کوټلي ګامونه واخلي. په دې وروستیو کې په ټولنیزو رسنیو کې داسې ویډیوګانې خپرې شوې چې له افغان کډوالو سره د ایراني چارواکو ناسم چلند وګوته کوي. چیانو له ایراني حکومت غوښتنه وکړه چې د مهاجرت په برخه کې ټول نړیوال کنوانسیونونه مراعت کړي او د افغان مهاجرو له خوړولو نه دې لاس واخلي. مظاهره چیانو له افغان حکومته

نړیوالو ورځپاڼو ته کتنه

«افغانستان یوازې نه پرېږدو»



والسټریټ ژورنال ورځپاڼه لیکي

مسکو او کابل د پوځي تخنیک پر تړون کار کوي

«د ملي پروژو کنټرول او مدیریت»

اعلان فاتحه

کندهار ولایت ته نوی

«له مالیې سرغړوونکو شرکتونو»

بهرنۍ لنډې خبرونه

د مالیزیا د لوېدلې الوتکې ۴۰ مړي موندل شوي

داعش په ۶ میاشتو کې نږدې ۲۰۰۰ کسان وژلي

د یونان پارلمان د ولسمشرۍ کاندید رد کړ

فلسطینیانو د دولت د رسمي کولو هڅې ګړندۍ کړې

د بشارالاسد حکومت د سولې په اړه خبرو ته چمتو دی

له بهرنیو منابعو څخه

وجیبه ملی تمام رسانه ها بازتاب رشادت، دلیری وشجاعت نیروهای

Dr : Shamsulhaq Aryanfar, Head of Govt. Dailies
Editor -in-chief. Ahmad Zalmai Shahbaz
0700078878
Deputy: Shah Wali "Qarar"
د ورځپاڼې د ویش څانګه
۰۲۰۲۳۰۱۳۳۷ ۰۷۰۰۷۹۶۰۱۷۱
چاپځای: د آزادۍ مطبعه

کتونکې ډله
• سینیوسف شرقي
• محمد صادق قلندري
• میر محمدي عزیزي
• اصغر بټني

دورځپاڼو رئیس: دکتور شمس الحق آریانفر ۰۷۹۹۳۲۵۸۵۰
آمر او مسوول مدیر احمد زلمی شهباز ۰۷۰۰۰۷۸۸۷۸ ۰۲۰۲۳۰۲۱۳۰
مرستیال: شاولي قرار ۰۷۹۹۳۱۲۵۰۶ ۰۲۰۲۳۰۲۱۲۹
سرپرست مسوول سکرتر شیرمحمد نظري ۰۷۷۲۰۳۶۷۴۵
دیزاین: احمدشاه سخي ۰۷۹۹۵۶۶۲۸۵

برېښنالیک hewad1948@yahoo.com
د ورځپاڼو وېب سایټ www.dailies.gov.af

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library